افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET

Afghanistan Cricket Board
ACB
Afghanistan Cricket Board




شپږم کال، نهمه ګڼه
اکتوبر- ۲۰۱۹ کال

بـــریـــــا د ټولو هیله

په هېواد کې لومړنی
بشپړ اسلامـي بانک

اولین بـانک کـاملاً
اسلامی در کشـــور



ISLAMIC BANK OF AFGHANISTAN

د افغانستان اسلامي بانک
Islamic Bank of Afghanistan

2121



د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنیو او بازار موندنې څانګه
میاشتنی مجله
اکتوبر- ۲۰۱۹





مسوول مدیر: عبدالله خان پکتانی
لیکوالان او راټولوونکي:
نظیم جار عبدالرحیمزی، محمد فرید هوتک، بختیار ساحل، رحمت دیوان او محمد نعمان اشرفي
عکس اخېستوونکي:
سید حسرت سادات او احمد خبیر فنا
ډیزاین: رضا مجیدي
بازار موندنه: نجي الرحمن عزیزي

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

لیکلر

افغان کرکټ

- سرمقاله ١
- د شپږیزې کرکټ لیګ د پرانیستې مراسم ٢
- مس عینک اتلانو د شپږم پراو شپږیزې کرکټ لیګ اتلولي په خپل نوم کړه ٤
- د شپږیزې کرکټ لیګ د لوبو لنډیز ٦
- شپږیزه کرکټ لیګ او کارنامې ١٣
- د شپږیزې ۴ غوره لوبغاړي ١٨
- افغانستان په نومبر کې له ویسټ انډیز سره مخ کېږي ٢٨
- ایکانا کرکټ لوبغالی ٣٠
- کریکت بورد افغانستان در عرصه‌های مختلف با سه نهاد شخصی تفاهم‌نامه امضاء کرد ٣٢
- له ځوان لوبغاړي رحمن الله ګربز سره ځانګړې مرکه ٣٤
- شکیب الحسن د کرکټ نړیوالې شورا له لوري له دوه کلن بندیز سره مخ شو ٤٠
- د ایي سي سي کرکټ نړیوال جام سوپر لیګ او راتلونکی نړیوال جام ٤٢
- د ټېسټ سیالیو هغه درې لوبغاړي چې ډېرې غبرګې سلیزې یې وهلې ٤٤
- سارو ګنګولي د هند کرکټ بورډ مشر وټاکل شو ٤٦
- **Interview with Mr. Alistair Campbell** ٥٠

سرمقاله



د شپږیزې کرکټ لیګ شپږم پراو سیالی په ډېر ښه توګه ترسره شوې او هېوادوالو تر ډېر خوند واخیست چې د کرکټ زرګونه مینه وال به هره ورځ د کابل لوبغالي ته راتلل او خپل اتلان به یې له نږدې هڅول.

دغه لوبې د اکتوبر په اوومه پیل چې د همدې میاشتې تر ۱۸مې نېټې پورې یې دوام ومونده چې په پایله کې یې د مس عینک اتلان لوبډلې اتلولي خپله کړه.

د دغو سیالیو په لړ کې د شپږو لوبډلو ترمنځ ۱۹ په زړه پورې لوبې ترسره شوې او د هېواد په هر ګوټ کې د ملي ټلویزیون له لارې هېوادوالو ننداره کړې.

د ادارې له مشرتابه نیولې تر ټولو کارکوونکو پکې د زړه له تله خواري وکړه او دغو سیالیو ته یې لا ډېره ښکلا وروبخښله، څو هېوادوال مو خوشحاله او له دغو سیالیو لا ډېر خوند واخلي.

همدارنګه د روان کال د نومبر له شپږمې د ډسمبر تر لومړۍ نېټې ملي اتلان د ویسټ انډیز پر وړاندې لوبې لري او دغه لوبې به هم ډېرې په زړه پورې وي او ټول هېوادوال به یې په ژوندۍ بڼه ننداره کړي.

باید وویل شي، اداره ډېره هڅه کوي چې له بشپړ غړیتوب لرونکو هېوادونو سره لوبې چمتو کړي، څو له همدې لارې مو لوبډله لا پیاوړې او په پایله کې یې سترو هېوادونو ته ماتې ورکړو.

درنښت

اداره

Shpageeza
Cricket League

#شپږیزه_لیګ

#د_اتلانو_لیګ

د شپږیزې کرکټ لیګ د پرانیستې مراسم



د شپږیزې کرکټ لیګ د شپږم پړاو د پرانیستې مراسم د اکتوبر په ۷مه نېټه مانښام په شاندار ډول په کابل کرکټ لوبغالي کې ترسره شول. په دغو مراسمو کې د افغانستان کرکټ بورډ د عمومي مشر ښاغلي فرهان یوسفزي، اجراییوي مشر ښاغلي لطف الله ستانکزي په ګډون یو شمېر سیاستوالو، ملي لوبغاړو او د کرکټ مینه والو ګډون درلود.

په پیل کې د افغانستان کرکټ بورډ عمومي مشر ښاغلي فرهان یوسفزي د پرانیستې وینا وکړه. نوموړي وویل چې ډېر د خوشحالۍ ځای دی چې د شپږیزې کرکټ لیګ یو ځل بیا ترسره کېږي او دا ځل به تر نورو کلونو لا په زړه پورې وي.

نوموړي همدا راز وویل، د شپږیزې کرکټ لیګ ورته د مادي پر ځای ډېر معنوي ارزښت لري.

هغه په خپلو خبرو کې وویل: ((ما چې د ولس سره کومې ژمنې کړې وې، هغه ټولې یو په یو پوره کوم. زه له خپلو ټولو اتلانو هم مننه کوم چې تل یې هېواد ته ویاړونه راوړي دي او انشا الله په راتلونکي کې به هم په یو غږ دوی هېوادوالو ته خوشحالئ راوړي.))



د افغانستان ملي راډیو ټلویزیون مشر ښاغلي اسماعیل میاخېل هم په خپلو خبرو کې وویل، چې دوی په لومړي ځل د شپږیزې کرکټ لیګ سیالۍ خپروي او دا د دوی لپاره نوې تجربه ده چې دوی به یې په ښه ډول د خپرولو لپاره ټولې هڅې وکړي.

هغه همدا راز زیاته کړه، کرکټ په افغانستان کې یو له هغه لوبو څخه دی چې هېوادوال یې ډېر خوښوي، ځکه د کرکټ لوبغاړو په نړۍ کې د افغانستان نوم او درې رنګه بېرغ ځلولی دی او تل یې دې هېواد ته ویاړونه راوړي دي.

همدا راز د شپږیزې کرکټ لیګ په تاریخ باندې یوه لنډه ویډیو هم د مراسمو ګډونوالو ته وړاندې شوه، چې پکې د تېرو اتلو لوبډلو یادونه هم شوې وه.

له هغه وروسته د شپږیزې کرکټ لیګ د شپږ لوبډلو لوبډلمشرانو هم په دریځ باندې ځینو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل او ویې ویل، که د شپږیزې سیالیو کې هره لوبډله اتلولي خپلوي، نو ګټه یې افغانستان ته ده، ځکه ټولې لوبډلې زمور دي. د مراسمو په پای کې شهزاد عدیل او جاوېد امرخېل ګډونوالو ته سندرې زمزمه کړې او همدا راز اورلوبه هم ترسره شوه.

مس عینک اتلانو د شپږم پړاو شپږیزې کرکټ لیګ اتلولي په خپل نوم کړه

د مس عینک اتلانو او بند امیر ښامارانو ترمنځ په زړه پورې پایلوبه ترسره شوه، چې په وروستي اور کې لوبه لا هم جالبه شوه او د وروستي اور په پنځم توپ د دوه منډو په ترلاسه کولو سره مس عینک اتلانو د تبر پړاو اتلي لوبډلې بند امیر ښامارانو ته په ۴ ویکټو ماته ورکړه او د ۲۰۱۹ شپږیزې کرکټ لیګ کې یې اتلولي خپله کړه.

د شپږیزې کرکټ لیګ پایلوبه کې د پاراګان بند امیر ښامارانو او وزیرزي مس عینک اتلانو لوبډلې د اکتوبر په ۱۸مه نېټه مخامخ شوې. د لوبې په پیل کې پچه مس عینک اتلانو وګټله او لومړی یې د بند امیر ښامارانو ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

بند امیر ښامارانو په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۷ لوبغړو په سوځېدو ۱۵۴ منډې وکړې، چې له ډلې یې عمران جنت ۳۲، شوکت زمان ۲۷، باطن شاه ۲۳ ناسوځېدلې او افسر ځاځي ۲۲ منډې ترلاسه کړې.

د مس عینک اتلانو له لوري نوین الحق ۳، شرف الدین اشرف ۲، محمد نبي او نور احمد ۱-۱ لوبغړی وسوځاوه.



د ۱۵۵ منډو هدف په تعقیب کې مس عینک اتلانو ډېره ښه توپوهنه پیل کړه، خو په وروستیو اورونو کې لوبه لا جالبه شوه، چې په ۱۲ توپونو ٦ منډې پکار وې، په وروستیو ۲ اورونو کې ۴ لوبغړي وسوځېدل خو مس عینک اتلانو ورکړل شوی هدف د ٦ لوبغړو په سوځېدو پوره او د شپږیزې کرکټ لیګ اتلولي یې په خپل نوم کړه.

د مس عینک اتلانو له لوري نور علي ځدران ۴۲، رحمن الله گربز ۳٦، محمد نبي ۳۰ او احسان الله جنت ۲۵ منډې وکړې. همدا راز مجیب الرحمن ۲، جاوید احمدي او باطن شاه ۱-۱ ویکټ ترلاسه کړه.

د یادولو ده چې مس عینک اتلانو تر دې مخکې په ۲۰۱۴ کال کې هم د شپږیزې کرکټ لیګ اتلولي ګټلې وه.

د پایلوبې د غوره لوبغړي جایزه شرف الدین اشرف ترلاسه کړه او د ستایلش لوبغړي جایزه رحمن الله گربز ته ورکړل شوه.

د شپږیزې کرکټ لیګ د شپږم پړاو غوره لوبغړی کریم جنت ونومول شو. همدا راز نور احمد د ایمرجینګ لوبغړي جایزه ترلاسه کړه، نجات مسعود د غوره توپ اچونکي او نور علي ځدران بیا د غوره توپوهونکي جایزې ترلاسه کړې.

د شپږیزې لیګ اتلي لوبډلې مس عینک اتلانو ته د ۳۰۰ زره افغانیو جایزه ورکړل شوه، همدا راز د دویم مقام په ترلاسه کولو د بند امیر ښامارانو لوبډلې ته ۱۲۰ زره افغانی جایزه ورکړل شوه.





د شپږیزې کرکټ لیګ د لوبو لنډیز

د شپږیزې کرکټ لیګ شپږم پراو د اکتوبر په ۷مه نېټه پیل او ۱۸مه نېټه پای ته ورسېده چې ۱۹ لوبې پکې ترسره شوې او پایلوبه کې د مس عینک اتلانو د بند امیر ښامارانو ته په ۴ ویکټو ماته ورکړه او د ۲۰۱۹ شپږیزې کرکټ لیګ اتلولي یې په خپل نوم کړه. په دغه لوبو کې ډېر نوي ځوانان هم وځلېدل او همدا راز په کابل لوبغالي کې هېوادوالو دغه لوبې له نږدې نندارە او خپل اتلان یې تشویق کړل.

دلته د لوبو لنډیز له تاسو سره شریکوو، چې په کومه لوبه کې کومې لوبډلې بریا خپله او کوم لوبغاړی پکې ښه وځلېده.

لومړی لوبه (۷م اکتوبر)



په لومړی لوبه کې د کابل بازان او پاراګان بند امیر ښاماران لوبډلې مخامخ شوې. کابل بازانو لومړی توپوهنه وکړه او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې یې د ۴ لوبغاړو په سوځېدو ۲۰۹ منډې وکړې. د دوی له ډلې زیاتې ۹۲ منډې اصغر افغان وکړې. په ځواب کې یې د بند امیر ښامارانو په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو ۱۷۴ منډې وکړې او په ۳۵ منډو یې لوبه وبایللە. د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه اصغر افغان ترلاسه کړه.

دویمه لوبه (۸م اکتوبر)



په دویمه لوبه کې د وزیرزي مس عینک اتلان او د عارف عظیم بوست ساتونکي سره مخامخ شو. مس عینک اتلانو لومړی توپوهنه وکړه او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې یې د ۸ لوبغاړو په سوځېدو ۱۵۶ منډې وکړې، په ځواب کې یې د بوست ساتونکو په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۹ لوبغاړو په سوځېدو ۱۵۳ منډې وکړې او په ۳ منډو مس عینک اتلانو بریا خپله کړه. د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه یمین احمدزي ترلاسه کړه چې ۴ لوبغاړي یې سوځولي و.

دریمه لوبه (۸م اکتوبر)



په دریمه لوبه کې د ډېلي فرېش امو نهنګانو او سپین غر زمریانو لوبډلې مخامخ شوې. امو نهنګانو لومړی توپوهنه ترسره او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې یې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو ۱۶۲ منډې وکړې، چې فضل ځاځي پکې ۴۹ زیاتې منډې ترلاسه کړې. په ځواب کې یې سپین غر زمریانو په ۱۹.۴ اورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۴۴ منډې وکړې، چې اصف موسی زي پکې ۵۰ منډې وکړې. د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه فضل ځاځي ترلاسه کړه.

څلورمه لوبه (۹م اکتوبر)



په څلورمه لوبه کې د وزیرزي مس عینک اتلان او د پاراګان بند امیر ښاماران سره مخامخ شو. مس عینک اتلانو لومړی توپوهنه وکړه او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې یې د ۴ لوبغاړو په سوځېدو ۱۹۲ منډې وکړې، چې نور علي خدرانِ ۷۷ او رحمن الله گربز ۵۶ منډې وکړې. په ځواب کې یې بند امیر ښامارانو په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۶ لوبغاړو په سوځېدو ۱۸۳ منډې وکړې چې په ۹ منډو مس عینک اتلانو بریا خپله کړه. شوکت زمان د بند امیر ښامارانو لپاره ۵۴ منډې وکړې. د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه نور علي خدرانِ ترلاسه کړه.

پنځمه لوبه (۹م اکتوبر)



په پنځمه لوبه کې د کابل بازان او سپین غر زمریان لوبډلې مېدان ته کوزې شوې. کابل بازانو لومړی توپوهنه ترسره او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې یې د ۹ لوبغاړو په سوځېدو ۱۲۹ منډې وکړې. کریم جنت ۴۵ منډې او کریم صادق ۳ لوبغاړي وسوځول. په ځواب کې یې د سپین غر زمریانو په ۱۹.۵ اورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۱۲ منډې وکړې او په ۱۷ منډو یې لوبه وبایللە. وقار سلامخېل ۳ لوبغاړي وسوځول او کریم جنت د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه.

اتمه لوبه (۱۱م اکتوبر)



په اتمه لوبه کې د عارف عظیم بوست ساتونکي او ډېلي فرېش امو نهنګان لوبډلې سره مخامخ شوې. بوست ساتونکو لومړی توپوهنه وکړه چې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې یې د ۵ لوبغاړو په سوځېدو ۱۷۶ منډې وکړې. ګلبدین نایب ۹۱ منډې ترلاسه او ضیا الرحمن ۳ لوبغاړي وسوځول. په ځواب کې یې امو نهنګانو په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو ۱۶۱ منډې وکړې او په ۱۵ منډو یې ماته وخوړه. ګلبدین نایب ۳ ویکټې ترلاسه او د لوبې د غوره لوبغاړي جایزې هم واخیسته.

شپږمه لوبه (۱۰م اکتوبر)



په شپږمه لوبه کې د ډېلي فرېش امو نهنګان او د پاراګان بند امیر ښاماران سره مخامخ شو. امو نهنګانو لومړی توپوهنه ترسره او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې یې د ۹ لوبغاړو په سوځېدو ۱۲۰ منډې وکړې. ابراهیم ځدران ۶۲ منډې وکړې او فرید احمد ۳ لوبغاړي وسوځول. یاد هدف د بند امیر ښامارانو په ۱۷.۱ اورونو کې د ۳ لوبغاړو په سوځېدو پوره او په ۷ ویکټو یې بریا خپله کړه. جاوېد احمدي ۶۲ ناسوځېدلې منډې وکړې او د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه یې ترلاسه کړه.

نهمه لوبه (۱۱م اکتوبر)



په نهمه لوبه کې د سپین غر زمریانو او وزیرزي مس عینک اتلانو لوبډلې مېدان ته کوزې شوې. سپین غر زمریانو لومړی توپوهنه ترسره او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې یې د ۹ لوبغاړو په سوځېدو ۱۷۷ منډې وکړې، چې نجیب تره کي پکې ۶۸ منډې وکړې. په ځواب کې یې د مس عینک اتلانو په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۹ لوبغاړو په سوځېدو ۱۷۳ منډې وکړې، شفیق الله غفاري ۵۸ او محمد نبي ۵۲ منډې وکړې. سپین غر زمریانو په ۴ منډو بریا خپله او نجیب تره کي د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه.

اوومه لوبه (۱۰م اکتوبر)



په اوومه لوبه کې د کابل بازان او عارف عظیم بوست ساتونکي مېدان ته سره کوز شول. کابل بازانو لومړی توپوهنه ترسره او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې یې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو ۱۴۴ منډې وکړې. په ځواب کې یې د بوست ساتونکو په ۱۸.۱ اورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۱۹ منډې وکړې چې په ۲۵ منډو یې لوبه وبایللە. د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه وقار سلامخېل ترلاسه کړه.

لسمه لوبه (۱۲م اکتوبر)



په لسمه لوبه کې د ډېلي فرېش امو نهنګان او کابل بازان سره مخامخ شو. امو نهنګانو لومړی توپوهنه وکړه چې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې یې د ۲ لوبغاړو په سوځېدو ۱۸۶ منډې وکړې. ابراهیم ځدران ۹۶ ناسوځېدلې او عثمان غني ۵۱ منډې وکړې. په ځواب کې یې د کابل بازانو لوبډلې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۹ لوبغاړو په سوځېدو ۱۸۲ منډې وکړې او په ۴ منډو یې لوبه وبایللە. اصغر افغان ۷۸ منډې، همدا راز ابراهیم ځدران او میروېس اشرف ۳-۳ لوبغاړي وسوځول. د غوره لوبغاړي جایزه د ابراهیم ځدران په نوم شوه.

يوولسمه لوبه (١٢م اکتوبر)



د پاراګان بند امير ښامارانو او سپين غر زمريانو لوبډلې په يوولسمه لوبه کې مخامخ شوې. لومړی بند امير ښامارانو توپوهنه وکړه چې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې يې د ۸ لوبغاړو په سوځېدو ۱۴۴ منډې وکړې. په ځواب کې يې د سپين غر زمريانو لوبډلې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو ۱۲۹ منډې وکړې او په ۱۵ منډو يې لوبه وبايلله. د لوبې د غوره لوبغاړي جايزه مجيب الرحمان ترلاسه کړه.

دولسمه لوبه (١٣م اکتوبر)



د کابل بازانو او وزيرزي مس عينک اتلانو لوبډلې په دولسمه لوبه کې سره مخامخ شوې. لومړی کابل بازانو توپوهنه ترسره او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې يې د ٦ لوبغاړو په سوځېدو ۱۳۱ منډې وکړې. نور احمد ۳ لوبغاړي وسوځول. ياد هدف د مس عينک اتلانو لوبډلې په ۱۸ اورونو کې د ۱ لوبغاړي په سوځېدو پوره او په ۹ ويکټو يې بريا خپله کړه. نور علي ځدرانِ ۷۲ ناسوځېدلې منډې وکړې او د لوبې د غوره لوبغاړي جايزه يې ترلاسه کړه.

ديارلسمه لوبه (١٣م اکتوبر)



ديارلسمه لوبه د عارف عظيم بوست ساتونکو او سپين غر زمريانو ترمنځ ترسره شوه. بوست ساتونکو لومړی توپوهنه وکړه او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې يې د ۸ لوبغاړو په سوځېدو ۱۳۱ منډې وکړې. عبدالواسع ۴ لوبغاړي وسوځول. ياد هدف د سپين غر زمريانو په ۱۱.۳ اورونو کې د ۴ لوبغاړو په سوځېدو پوره او په ٦ ويکټو يې بريا خپله کړه. نجيب الله ځدرانِ ۹۷ ناسوځېدلې منډې وکړې او د لوبې د غوره لوبغاړي جايزه يې ترلاسه کړه.

خوارلسمه لوبه (١٤م اکتوبر)



د وزيرزي مس عينک اتلان او د ډېلي فرښ امو نهنګان په خوارلسمه لوبه کې سره مخامخ شو. مس عينک لومړی توپوهنه ترسره او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې يې د ٦ لوبغاړو په سوځېدو ۱٦۲ منډې وکړې، چې نور علي ځدرانِ پکې ۷۳ منډې ترلاسه کړې. شاپور ځدرانِ بيا ۴ لوبغاړي وسوځول. په ځواب کې يې امو نهنګانو په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۵ لوبغاړو په سوځېدو ۱۵۹ منډې وکړې او په ۳ منډو يې لوبه وبايلله. ابراهيم ځدرانِ ٦۹ منډې وکړې. د لوبې د غوره لوبغاړي جايزه نور علي ځدرانِ ترلاسه کړه.

پنځلسمه لوبه (١٤م اکتوبر)



پنځلسمه لوبه د پاراګان بند امير ښامارانو او عارف عظيم بوست ساتونکو ترمنځ ترسره شوه. لومړی بند امير ښامارانو توپوهنه ترسره او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې يې د ۴ لوبغاړو په سوځېدو ۱۹۳ منډې وکړې. جاوېد احمدي ۱۱۷ ناسوځېدلې منډې ترلاسه کړې. د ياد هدف په تعقيب کې د بوست ساتونکو ټوله لوبډله په ۱۲.۴ اورونو کې وسوځېدله او ۸۴ منډې يې وکړې چې د ۱۰۹ منډو په ستر توپير د بند امير ښامارانو بريا خپله کړه. نجات مسعود بيا ۵ لوبغاړي وسوځول او د لوبې د غوره لوبغاړي جايزه جاوېد احمدي ترلاسه کړه.

لومړی کوالیفاير لوبه (١٦م اکتوبر)



په لومړی کوالیفاير لوبه کې د جدول د سر دوه لوبډلې، وزيرزي مس عينک اتلان او پاراګان بند امير ښاماران سره مخامخ شوې. لومړی د بند امير ښامارانو لوبډلې توپوهنه وکړه چې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې يې د ٦ لوبغاړو په سوځېدو ۱۵۷ منډې وکړې. افسر ځاځي ۵٦ ناسوځېدلې منډې وکړې او شرف الدين اشرف ۳ لوبغاړي وسوځول. ياد هدف د مس عينک اتلانو په ۱۹.۱ اورونو کې د ۳ لوبغاړو په سوځېدو پوره او په ۷ ويکټو يې بريا خپله کړه. رحمن الله ګربز ۸۰ منډې ترلاسه او د لوبې د غوره لوبغاړي جايزه يې واخيسته.

Shpageeza Cricket League

ایلیمینېټر لوبه (۱۶م اکتوبر)



په ایلیمینېټر لوبه کې د جدول دریمه لوبډله کابل بازان او ځلورمه لوبډله سپین غر زمریان سره مخامخ شوې. کابل بازانو لومړی توپوهنه وکړه او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې یې د ۳ لوبغړو په سوځېدو ۱۹۷ منډې وکړې. کریم جنت ۱۲۰ منډې وکړې، چې د شپږیزې کرکټ لیګ د تاریخ تر ټولو زیاتې منډې دي. په ځواب کې یې د سپین غر زمریانو په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۹ لوبغړو په سوځېدو ۱۸۱ منډې وکړې او په ۱۶ منډو یې لوبه وبایلله. نجیب تره کي ۵۲ منډې ترلاسه او وقار سلامخېل ۴ لوبغړي وسوځول. د لوبې د غوره لوبغړي جایزه کریم جنت ترلاسه کړه.`

کوالیفایر دویمه لوبه (۱۷م اکتوبر)



په دویمه کوالیفایر لوبه کې د پاراګان بند امیر ښامارانو او کابل بازانو لوبډلې سره مخامخ شوې. لومړی توپوهنه د بند امیر ښامارانو لوبډلې وکړه او په ۲۰ اورونو کې د ۲ لوبغړو په سوځېدو یې د شپږیزې کرکټ لیګ تر ټولو زیاتې ۲۲۵ منډې یې وکړې. عمران جنت ۱۱۵ ناسوځېدلې او جاوید احمدي ۷۷ منډې وکړې. په ځواب کې یې د کابل بازانو په ۲۰ اورونو کې د ٦ لوبغړو په سوځېدو ۲۲۲ منډې وکړې او په ۳ منډو یې لوبه وبایلله. یونس احمدزي ۵۳ او کریم جنت ۵۱ منډې وکړې، نجات مسعود بیا ۳ لوبغړي وسوځول. د لوبې د غوره لوبغړي جایزه عمران جنت ترلاسه کړه.

پایلوبه (۱۸م اکتوبر)



په پایلوبه کې د وزیرزي مس عینک اتلانو او پاراګان بند امیر ښامارانو لوبډلې مخامخ شوې. بند امیر ښامارانو لومړی توپوهنه ترسره کړه او په ټاکلو ۲۰ اورونو کې یې د ۷ لوبغړو په سوځېدو ۱۵۴ منډې وکړې. عمران جنت ۳۲ منډې او نوین الحق ۳ لوبغړي وسوځول. یاد هدف د مس عینک اتلانو لوبډلې په ۱۹.۵ اورونو کې د ٦ لوبغړو په سوځېدو پوره او په ۲۰۱۹ شپږیزه کرکټ لیګ کې یې اتلولي په خپل نوم کړه. د لوبې د غوره لوبغړي جایزه شرف الدین اشرف ترلاسه کړه. همدا راز د شپږیزې کرکټ لیګ غوره لوبغړی کریم جنت اعلان شو، غوره توپوهونکی نور علي ځدرانِ او غوره توپ اچونکی نجات مسعود ونومول شو، همدا راز د ایمریجنګ لوبغړي جایزه نور احمد ترلاسه کړه.

شپږیزه کرکټ لیګ او کارنامې

افغانستان کرکټ بورډ یو وار بیا د کورنیو سیالیو په جوړښت کې تر ټولو سترې سیالۍ یا د شپږیزه کرکټ لیګ په بریا سره ترسره کړ. دا ځل د دې لیګ بریالیتوب په دې کې و چې تر نورو کلونو زیاتو ځوانو لوبغړو ته په لوبډلو کې ځای ورکړل شوی و او ځینو یې مهمې کارنامې هم ترسره کړې.

په دې لیکنه کې به د شپږیزه کرکټ لیګ ټول لنډیز درته په الفاظو کې ځای کړو.



تر ټولو زیاتې منډې: نورعلي ځدرانِ په دې سیالیو کې تر ټولو مخکښ و، هغه په ۷ پاڼیو کې ۳۵۴ منډې جوړې کړې چې ۳ نیمه سلیزې پکې شاملې وې.

جاوید احمدي بیا په ۸ پاڼیو کې ۳۵۱ منډې جوړې کړې وې، کریم جنت، ابراهیم ځدرانِ او اصغر افغان بیا په ترتیب سره ۳۱۷، ۲۸۷ او ۲۵۴ منډې جوړې کړې.



زیاتې ویکټې: په توپ اچونه کې بیا ځوان او چټک توپ اچونکی نجات مسعود د شپږیزې په لیګ کې مخکښ و او ۱۱ ویکټې یې په ٦ پاڼیو کې اخیستې دي. نجات مسعود یوازېنی چټک توپ اچونکی دی چې د سړنیو سیالیو په یوه لوبه کې یې ۵ لوبغړي وسوځول. همدارنګه نوین الحق، مجیب الرحمن، وقار سلامخېل او یمین احمدزي بیا په یو بل پسې ۱۰، ۱۰، ۱۰ او ۹ ویکټې اخیستې دي.



سلیزې: په شل اوریزه کرکټ کې سلیزه جوړول اسانه نه وي، خو دا کال د سلیزو لپاره هم ښه و. تر دې وړاندې یوازې په ۲۰۱۷ زېږدیز کال کې کیمرن ډیلپورټ سلیزه جوړه کړې وه، خو سړ کال جاوید احمدي، کریم جنت او عمران جنت وتوانېدل چې سلیزې جوړې کړي. په یوه پاڼې کې هم تر ټولو زیاتې مندې کریم جنت ۱۲۰، جاوید احمدي ۱۱۷ او عمران جنت ۱۱۵ مندې کړې دي.



پنځوسیزې: نړدې ۱۷ لوبغاړي د شپږیزې په سرنۍ لیګ کې وتوانېدل چې نیمه سلیزې جوړې کړي، خو ابراهیم ځدران، نورعلي ځدران او جاوید احمدي هغه لوبغاړي وو چې درې- درې نیمه سلیزې یې سرکال جوړې کړې.



شپږیزې: د شپږیزې او شل اوریزو سیالیو ښکلا په شپږیزو کې ده، سړ کال په دې لیګ کې کریم جنت تر هرچا ښه وځلېده، هغه سیالیو ته بې حده ښکلا ورکړې وه چې تر اخره وتوانید ۲۳ شپږیزې په خپل نوم کړي، همدارنګه اصغر افغان ۱۹، رحمن الله ګربز ۱۸ او جاوید احمدي هم ۱۸ شپږیزې ووهلې. دغه راز په یوه لوبه کې تر ټولو زیاتې شپږیزې بیا ۸ دي چې اصغر افغان، نجیب ځدران، جاوید احمدي، رحمن الله ګربز، کریم جنت او عمران جنت ترلاسه کړې دي.



لوړ اوسط او سټرایک ریټ: په شل اوریزه سیالیو کې تر ډېره په لوړ اوسط بحث نه کیږي، بلکې سټرایک ریټ مهم بلل کیږي، سړ کال باطن شاه توانیدلی چې په ۸۵ اوسط شپږیزه لیګ کې لوبه ترسره کړي، همدارنګه افسر ځاځي په ۷۷، منیر احمد کاکړ په ۷٦، ابراهیم ځدران په ۷۱ او نورعلي ځدران په ۷۰ اوسط مندې جوړې کړې دي.
سټرایک ریټ بیا د توپوهونکي لپاره په شل اوریزه سیالیو کې مهم ارزښت لري چې نجیب الله ځدران وتوانېده په یوه لوبه کې په ۲۰۹.۴۱ سټرایک ریټ توپوهونه وکړي.



په یوه پاڼې کې تر ټولو زیاتې او کمې مندې: ښایي د بند امیر ښامارانو او کابل بازانو ترمنځ لوبه له هیڅا هېره نه وي، د بند امیر لوبډلې وکړای شول چې په یوه پاڼې کې ۲۲۵ مندې جوړې کړې چې په هر اور کې ۱۱.۲۵ مندې راځي. دغه راز ښېرته په تعقیب کې بیا ۲۲۲ مندې کابل بازانو ترسره کړې دي.
بوست ساتونکو لوبډله بیا په یوه پاڼې کې په ۸۴ مندو سوځېدلې ده.



د دوه لوبغاړو ملګرتیا: په سرنیو سیالیو کې د پیل د دوه لوبغاړو ترمنځ تر ټولو اوږده ملګرتیا نورعلي ځدران او رحمن الله ګربز ترسره کړه چې ۱۳۴ مندې وه. خو په دویمه ویکټ تر ټولو اوږده ملګرتیا بیا د جاوید احمدي او عمران جنت ترمنځ وه چې ۱۷٦ مندې یې په ګډه کړې وې.



کیچونه: په دې لیګ کې بیا حیات الله توانیدلی چې تر ټولو زیات کیچونه واخلي هغه ۸ کیچونه نیولي دي او ورپسې ابراهیم ځدران ٦ کیچونه ترلاسه کړي دي.



اقتصادي توپ اچونه: دې ته په کرکټ کې غوره ایکانومی سره توپ اچونه هم ویلی شو چې دا کارنامه بیا هم امیر حمزه هوتک ترسره کړې ده که څه هم هغه په ۲۴ اورونو کې ۸ ویکټې ترلاسه کړې دي، خو په هر اور کې یې یوازې ۴،۹۱ منډې ورکړي دي چې دا غوره توپ اچونه ده.



هټریک: له هټریک موخه دا ده چې په درې توپونو یو توپ اچونکی درې لوبغاړي وسوځوي. دا کار اسانه نه دی، په شپږیزه لیګ کې مو ولیدل چې نړدې شپږ توپ اچوونکو دا موقع ترلاسه کړې وه چې په درې توپونو درې لوبغاړي وسوځوي، خو ونه توانېدل. ځوان ابراهیم ځدران چې کله کله چټکه توپ اچونه کوي په یوه لوبه کې په درې توپونو درې لوبغاړي وسوځول او لومړنی هټریک یې پخپل نوم ثبت کړ.



په یوه پاڼې کې تر ټولو زیاتې منډې: باطن شاه، کریم صادق، کریم جنت، وقارسلامخیل، ګلبدین نایب او فرید ملک هغه توپ اچوونکي دي چې په ۴ اورونو کې یې تر ۵۰ زیاتې منډې ورکړې دي.



د شپږیزې لیګ ګټونکې لوبډلې: مس عینک هغه لوبډله ده چې سږ کال یې د دویم ځل لپاره شپږیزې لیګ سیالیو اتلولي وګټله، تر دې وړاندې یې په ۲۰۱۴ کې هم یو ځل دا ویاړ ترلاسه کړی و.
سپین غر تر دې وړاندې په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۵ کلونو کې د شپږیزې لیګ اتلولی ګټلې وې.
بندامیر بیا تېر کال د شپږیزې لیګ سیالیو اتله لوبډله وه.
همدارنګه کابل بازانو په ۲۰۱٦ زیږدیز کال کې د شپږیزې سیالیو د اتلولي ویاړ درلود.

د شپږيزې ۴ غوره لوبغاړي

د شپږيزې کرکټ لیګ شپږم پراو له ډېرو ولولو ډک و، که یوې خواته ډېرې په زړه پورې لوبې نندارې ته وړاندې شوې، نو بل لور ته بیا د کرکټ مینه والو هم په پراخه کچه پکې ګډون وکړ او د لوبو خوند یې لا پسې زیات کړ. په سرکال شپږیزه کې نه یوازې دا چې نوي لوبغاړي هم ډېر وځلېدل، بلکې د ملي لوبډلې لوبغاړو هم پکې ښه لوبه نندارې ته وړاندې کړه، خو دلته یوازې د شپږیزې سیالیو د ۴ غوره لوبغاړو، چې په دغه سیالیو کې تر نورو ښه وځلېدل او جایزې یې ترلاسه کړې، په لوبو نظر اچوو او د هغوی معلومات رااخلو.

کریم جنت، د شپږیزې غوره لوبغاړی:

۲۱ کلن کریم جنت چې د افغانستان ملي لوبډلې، نولس کلنو لوبډلې او اې لوبډلې کې هم لوبډلی دی، د سرکال شپږیزې لیګ کې د کابل بازانو په لوبډله کې ولوبېده. هغه بالنګ الراونډر دی خو په شپږیزه لیګ کې بیا د کابل بازانو لپاره په ټولو لوبو کې د پیل توپوهنې ته راوواته. هغه نه یوازې دا چې د توپوهنې په برخه کې ښه وځلېده، بلکې په توپ اچونه کې یې هم خپله وړتیا ښکاره کړه او د شپږیزې لیګ د شپږم پراو د غوره لوبغاړي جایزه یې ترلاسه کړه.

کریم جنت په شپږیزه لیګ کې په ۷ لوبو کې ولوبېده، چې ۲ ځل یې د غوره لوبغاړي جایزه هم ترلاسه کړه. د بنډ امیر ښامارانو په وړاندې هغه په لومړی لوبه کې ۲۰ منډې وکړې او ۱ لوبغاړی یې وسوځاوه.

په خپله دویمه لوبه کې یې بیا د سپین غر زمریانو پر وړاندې ۴۵ منډې وکړې او د ۱۵ منډو په بدل کې یې ۲ لوبغاړي وسوځول چې د یادې لوبې د غوره لوبغاړي جایزه یې هم ترلاسه کړه.

د بوست ساتونکو پر وړاندې هغه ډېر ښه ونه ځلېده او یوازې ۱۷ منډې یې وکړې، همدا راز په توپ اچونه کې یې هم بیا کومه ویکټ ترلاسه نه کړه، خو د امو نهنګانو پر وړاندې یې بیا ۳۷ منډې وکړې او ۱ ویکټ یې ترلاسه کړه.

د شپږیزې په ۱۲مه لوبه کې هم کریم جنت بیا ۲۷ منډې ترلاسه کړې او د کومې ویکټې په ترلاسه کولو کې بریالی نه شو، خو په ایلیمینېټر لوبه کې کریم جنت بیا خپله وړتیا ښکاره کړه او د شپږیزې کرکټ لیګ د تاریخ تر ټولو زیاتې ۱۲۰ منډې یې وکړې. هغه د ۸ شپږیزو او ۱۱ ځلوریزو پر مټ په ۶۳ توپونو باندې ۱۲۰ منډې وکړې او خپله لوبډله یې بریا ته ورسوله. په دغه لوبه کې نومورې د غوره لوبغاړي جایزه هم ترلاسه کړه.

په دویمه کوالیفایر لوبه کې هم کریم جنت ښه وځلېده، چې د ۴ شپږیزو او ۴ ځلوریزو پر مټ یې په ۲۷ توپونو ۵۱ منډې وکړې او همدا راز د توپ اچونې په برخه کې یې ۱ لوبغاړی وسوځاوه، خو کابل بازانو ونه شول کولای چې بریا خپله او پایلوبې ته لار پیدا کړي.

کریم جنت د زیاتو منډو ترلاسه کوونکو توپوهونکو په برخه کې دریم مقام راغی، چې په ۷ لوبو کې یې د ۴۵.۲۸ په اوسط ۳۱۷ منډې وکړې. ۱ سلیزه، ۱ پنځوسیزه یې ووهله او ۲۳ شپږیزې او ۲۴ ځلوریزې یې هم ووهلې. د هغه د توپوهنې ستړایک ربټ بیا ۱۶۴.۲۴ و.

نومورې تر ټولو زیاتې ۱۲۰ منډې هم وکړې او همدا راز په ۷ لوبو کې یې بیا ۵ لوبغاړي هم وسوځول، چې غوره توپ اچونه یې د ۱۵ منډو په بدل کې ۲ لوبغاړي سوځول و.

نور علي ځدران، د شپږیزې غوره توپوهونکی:

۳۱ کلن نور علي ځدران چې د ملي لوبډلې یو له تجربه لرونکو لوبغاړو څخه دی، نومورې په شپږیزه کرکټ لیګ کې د اتلي مس عینک اتلانو لوبډلې لپاره ولوبېده او د یادې لوبډلې په اتلولۍ کې یې ښه رول ولوباوه. نومورې په ۷ لوبو کې ۳۵۴ منډې وکړې، چې د شپږیزې د یوه توپوهونکي له لوري تر ټولو زیاتې منډې دي. نومورې همدا راز ۳ پنځوسیزې ووهلې. نور علي ځدران د پیل توپوهونکی دی او د مس عینک اتلانو لوبډلې لپاره یې هم ښه لوبه نندارې ته وړاندې کړه چې په ۳ لوبو کې یې د غوره لوبغاړي جایزې هم ترلاسه کړې.

نومورې په خپله لومړۍ لوبه کې د بوست ساتونکو په وړاندې ۳۷ منډې وکړې، خو د شپږیزې په ۴مه لوبه او خپله دویمه لوبه کې یې د بنډ امیر ښامارانو په وړاندې د ۷۷ منډو په زړه پورې توپوهنه ترسره او د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه یې هم ترلاسه کړه.

د سپین غر په وړاندې هغه یوازې ۹ منډې وکړې، خو د کابل بازانو په وړاندې یې د شپږیزې په ۱۲مه لوبه کې د ۷۲ منډو په زړه پورې ناسوځېدلې توپوهنه ترسره کړه، چې خپله لوبډله یې بریا ته ورسوله او یو ځل بیا غوره لوبغاړی هم اعلان شو.

همدا راز د امو نهنګانو په وړاندې هم نومورې د ۷۳ منډو په زړه پورې توپوهنه ترسره کړه او غوره لوبغاړی ونومول شو. په کوالیفایر لوبه کې نومورې ۴۴ ناسوځېدلې او پایلوبه کې یې ۴۲ منډې ترسره کړې. نومورې د مس عینک اتلانو لوبډلې په بریاوو کې مهم رول ولوباوه.

نور علي ځدران په ۷ لوبو کې د ۷۰.۸ په اوسط ۳۵۴ منډې وکړې، چې د یوه توپوهونکي له لوري تر ټولو زیاتې منډې دي. هغه همدا راز ۳ پنځوسیزې، ۱۰ شپږیزې او ۳۸ ځلوریزې ووهلې. د نومورې ستړایک ربټ بیا ۱۳۴.۰۹ و او په یوه لوبه کې زیاتې منډې یې ۷۷ ترلاسه کړې وې.



نجات مسعود، د شپږیزې غوره توپ اچونکی:

٢٠ کلن نجات مسعود چې په فرسټ کلاس ١٦ لوبو کې یې ٥١ ویکټې ترلاسه کړي دي، د شپږیزې کرکټ لیګ په شپږم پړاو کې غوره توپ اچونه ترسره کړه چې تر ټولو زیات لوبغاړي یې وسوځول او د سیالیو د غوره توپ اچونکي جایزه یې ترلاسه کړه.

نجات مسعود د افغانستان لپاره په ١٩ کلنو کم عمره لوبډله کې لوبډلی او همدا راز په کورنیو سیالیو کې لوبډلی دی، خو د ملي لوبډلې لپاره یې کومه لوبه تر دې مهاله پورې نه ده ترسره کړې. د شپږیزې کرکټ لیګ په شپږم پړاو کې هغه د بند امیر ښامارانو لوبډلي لپاره ولوبېده. نوموړی د یادې لوبډلې په لومړیو دوه لوبو کې نه و لوبېدلی، خو د بند امیر ښامارانو په دریمه لوبه کې هغه د امو نهنګانو پر وړاندې ولوبېده چې د ٣٢ منډو په ورکولو سره یې ٢ لوبغاړي وسوځول.



په خپله لومړی لوبه کې د نبي توپ اچونې له امله نوموړی د بند امیر ښامارانو په وروستیو ټولو لوبو کې ولوبېده، چې خپله وړتیا یې ښکاره او په زړه پورې توپ اچونه یې ترسره کړه.

په خپله دویمه لوبه کې نوموړي د سپین غر زمریانو ١ لوبغاړی وسوځاوه، خو په ورپسې لوبه کې یې بیا د بوست ساتونکو په وړاندې تر ټولو غوره توپ اچونه وکړه، چې په ٤ اوورونو کې یې د ٢٢ منډو په ورکولو سره ٥ لوبغاړي وسوځول. دا د روان شپږیزه کرکټ لیګ تر ټولو غوره توپ اچونه وه.

په دغه لوبه کې نجات مسعود د برېندټن ټیلر، ګلبدین نایب، حشمت الله شهیدي، ناصر خان او وقار الله اسحاق ویکټې ترلاسه کړې.

په لومړی کوالیفایر لوبه کې د مس عینک اتلانو پر وړاندې هغه کومه ویکټ ترلاسه نه کړه، خو په دویمه کوالیفایر لوبه کې بیا نوموړي د کابل بازانو ٣ لوبغاړي وسوځول او د خپلې لوبډلې په بریا کې یې ډېره برخه واخیسته.

د بند امیر ښامارانو او مس عینک اتلانو ترمنځ د شپږیزې کرکټ لیګ پایلوبه ترسره شوه، که څه هم دغه پایلوبه ډېره په زړه پورې وه، خو نجات مسعود ٢ اوروونه ترسره کړل او په دې بریالی نه شو چې کوم لوبغاړی وسوځوي.

په شپږیزه لیګ کې نجات مسعود په ٦ لوبو کې ولوبېده او ٢١ اوروونه یې ترسره کړل، چې د ١٧.٣٦ په اوسط یې ١١ لوبغاړي وسوځول. په یوه لوبه کې د نوموړي غوره توپ اچونه د ٢٢ منډو په بدل کې ٥ لوبغاړي سوځول و.

نور احمد، د شپږیزې ایمرجینګ لوبغاړی:

١٤ کلن نور احمد چینامېن توپ اچونکی دی، چې د افغانستان په ١٩ کلنو کم عمره لوبډله کې هم لوبېدلی دی، دا ځل پرې مس عینک اتلانو باور وکړ او هغه هم خپله وړتیا ښکاره کړه چې د شپږیزې کرکټ لیګ د ایمرجینګ لوبغاړي جایزه یې هم ترلاسه کړه.

نوموړی د مس عینک اتلانو په ټولو لوبو کې ولوبېده او په هره لوبه کې یې په زړه پورې توپ اچونه ترسره کړه. نوموړي په خپله لومړی او دویمه لوبه کې د بوست ساتونکو او بند امیر ښامارانو پر وړاندې ١-١ ویکټ ترلاسه کړه، خو د سپین غر زمریانو پر وړاندې په لوبه کې یې بیا ٢ لوبغاړي وسوځول.

د کابل بازانو په وړاندې په لوبه کې نوموړي بیا خپله ښه توپ اچونه ترسره کړه چې په ٤ اوورونو کې یې د ١٢ منډو په ورکولو سره ٣ لوبغاړي وسوځول.

خو نور احمد بیا د امو نهنګانو او په کوالیفایر لوبه کې د بند امیر ښامارانو پر وړاندې په دې بریالی نه شو چې کومه ویکټ ترلاسه کړي، خو په دواړو لوبو کې نوموړي کمې منډې ورکړې او ښه توپ اچونه یې ترسره کړه.

په پایلوبه کې نوموړي بیا د بند امیر ښامارانو په وړاندې ٢٣ منډې ورکړې او ١ ویکټ یې ترلاسه کړه.

نور احمد د شپږیزې کرکټ لیګ په شپږم پړاو کې ٧ لوبې ترسره کړې چې د ٢١.٨٧ په اوسط یې ٨ لوبغاړي وسوځول. د هغه غوره توپ اچونه د ١٢ منډو په بدل کې ٣ لوبغاړي سوځول و.

د یادولو ده چې نور احمد تراوسه پورې ١ فرسټ کلاس لوبه ترسره کړې ده، چې ٤ لوبغاړي یې پکې سوځولي دي.

نوموړي په ډېر لږ عمر کې خپله وړتیا ښکاره کړې او په راتلونکې کې هیله کېدای شي چې نوموړی به د کرکټ په نړۍ کې ستر نوم پیدا کړي.








Long Live AC
WE ♥ RASHID
KHAN
Biiigg FAN OF
Googly MASTER


UMPIRE





PARAGON
SPORTS









The Leading ISP/ICT Company In Afghanistan



RANA Technologies Enterprises is the leading and award winning Internet Service Provider (ISP) & Information & Communications Technology (ICT) Enterprise in Afghanistan.

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan +93 (0) 798 85 85 85 www.ranatech.com info@ranatech.com

411 معلومات
INFORMATION

ستاسو دمعلوماتو نړۍ

معلومات 411 ، دعمومي معلوماتو څانګه د مسلکي
او تجربه لرونکو استازو په لرلو د اړینو او کره
معلوماتو په وړاندې کولو سره 24 ساعته د خپلو
ګرانو هیوادوالو په چوپړکې ده.

همدا مهال ۴۱۱ سره اړیکه ټینګه کړئ او خپل معلومات ترلاسه کړئ.

411

/malomaat.af www.malomaat.af info@malomaat.af


Shpageeza
Cricket League 2019
افغانی زمونږ ملي هویت دی
PAY WINNERS
AFN 300,000.00
THE SUM THREE HUNDRED THOUSAND AFGHANIS ONLY
Shpageeza
Cricket League


Shpageeza
Cricket League 2019
افغانی زمونږ ملي هویت دی
PAY RUNNER UP
AFN 120,000.00
THE SUM ONE HUNDRED AND TWENTY THOUSAND AFGHANIS ONLY


WAZIRZAI
GLOBAL GROUP
PARAGON






66
WAZIRZAI

افغانستان په نومبر کې له ویسټ انډیز سره مخ کېږي

د افغانستان او ویسټ انډیز ترمنځ د افغانستان په کوربه توب په هند کې ۳ یو ورځنی، ۳ شل اوریزې او ۱ ټیسټ لوبه ترسره کېږي، چې دواړو لوبډلو ورته خپلې لوبډلې هم اعلان کړي دي.

افغانستان دغه لوبو ته د اکتوبر په ۲۵مه نېټه د شل اوریزو او یو ورځنیو لوبو لوبلړی لپاره په لوبډلو کې د شاملو لوبغاړو نوملړونه خپاره کړل.

د یو ورځنیو لوبو لپاره د افغان لوبډلې د لوبغاړو نوملړ:

راشد خان (لوبډلمشر)، اصغر افغان، محمد نبي، حضرت الله ځاځی، ابراهیم ځدران، مجیب الرحمن، جاوید احمدي، نجیب الله ځدران، کریم جنت، گلبدین نایب، فرید ملک، شرف الدین اشرف، سید احمد شبرزاد، یمین احمدزی، نوین الحق او رحمن الله گربز.

د یادولو ده چې د یوازینۍ ټیسټ لوبې لپاره به د افغانستان لوبډله وروسته اعلان شي.

د افغانستان سره د لوبلړیو لپاره د ویسټ انډیز درې واړه لوبډلې د اکتوبر په ۱۵مه نېټه اعلان شوې وې.

د یو ورځنیو لوبو لپاره د ویسټ انډیزي لوبغاړو نوملړ:

کیرون پولارډ (لوبډلمشر)، شای هوپ، ایوین لیویس، شیمرون هیټمایر، سونیل امبریس، نیکولاس پوران، برینډون کنګ، روسټون چیس، جیسن هولډر، هایډین والش، خېري پیري، شیلډون کوټریل، کیمو پاول، روماریو شیپیرډ او الزاري جوسیپ.

د شل اوریزو لوبو لپاره د ویسټ انډیزي لوبغاړو نوملړ:

کیرون پولارډ (لوبډلمشر)، نیکولاس پوران، ایوین لیویس، برینډن کنګ، شیمرون هیټمایر، شیرفېن روترفورډ، جیسن هولډر، لینډل سیمونز، فابین الین، هایډن والش، خېري پیري، شیلډون کوټریل، دینیش رامدین، کیسریک ویلیمس او الزاري جوسیپ.

د ټیسټ لوبې لپاره د ویسټ انډیزي لوبغاړو نوملړ:

جیسن هولډر (لوبډلمشر)، کریګ بریتویټ، جان کیمپبیل، شای هوپ، شیمرون هیټمایر، روسټون چیس، شان دوریچ، جومېل وریکان، راهکیم کورنوال، کیمار روچ، شامار بروکس، سونیل امبریس، الزاري جوسیپ او کیمو پاول.

د افغانستان او ویسټ انډیز ترمنځ یو ورځنی، شل اوریزې او ټیسټ سیالی د نومبر په ٦مه نېټه پیلېږي، چې د دسمبر تر لومړۍ نېټې پورې به دوام وکړي. دغه ټولې لوبې د لکنو په ایکانا لوبغالي کې ترسره کېږي.

لومړی یو ورځنی لوبه د نومبر په ٦مه، دویمه یو ورځنی لوبه د نومبر په ۹مه او دریمه یو ورځنی لوبه د نومبر په ۱۱مه ترسره کېږي. لومړی شل اوریزه لوبه د نومبر په ۱۴مه، دویمه شل اوریزه لوبه د نومبر په ۱٦مه او دریمه شل اوریزه لوبه د نومبر په ۱۷مه نېټه ترسره کېږي. همدا راز یوازینۍ ټیسټ سیالي به بیا د نومبر له ۲۷مې نېټې څخه د دسمبر تر لومړۍ نېټې پوره ترسره شي.





ایکانا
کرکټ لوبغالی

ایکانا کرکټ لوبغالی چې په نړیوالو معیارونو برابر جوړ شوی دی، د اترا پردیش ایالت په لکنو ښار کې موقعیت لري. دغه لوبغالی د ۵۰۰۰۰ کسانو د ناستې ځایونه لري چې په هندوستان ښار کې دریم لوی لوبغالی شمېرل کیږي.

افغانستان کرکټ بورډ اداري د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په می میاشت کې د هند کرکټ اداري ته د نړیوالو لوبو ترسره کولو په پار د دې لوبغالي وړاندیز وکړ چې په اګست میاشت کې یې افغانستان ته د لوبو اجازه ورکړل شوه او تر دهرادون او ګریټر نویډا وروسته دا دریم لوبغالی شو چې افغانستان به په کې د نورو نړیوالو لوبډلو کوربتوب ترسره کړي.

په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې د هندوستان د کرکټ اداري د دې لوبغالي له نوم سره د یاد هېواد د پخواني لومړي وزیر اتل بهاري واجپای نوم هم منظور کړ، چې اوس د بهارت راتنا شري اتل بهاري واجپای ایکانا کرکټ لوبغالي په نوم یادیږي.

په هندوستان کې دا لوبغالی د افغانستان دریم کورنی لوبغالی وشمیرل شو. په دې لوبغالي کې د ۲۰۱۸ زیږدیز کال د نومبر په شپږمه نېټه د هندوستان او ویسټ اینډیز ترمنځ د شل اوریزو سیالیو لړی ترسره شوې چې روحیت شرما په کې سلیزه هم جوړه کړې وه.





کریکت بورد افغانستان در عرصه‌های مختلف با سه نهاد شخصی تفاهم‌نامه امضاء کرد



اداره کریکت بورد افغانستان برای مسابقات مقابل کشور ویست اندیز با سه نهاد شخصی در عرصه های مختلف تفاهمنامه ها را به امضاء رساندند.

اولاً باید یاد آور شد که این اداره با پوهنتون کاردان دو تفاهمنامه امضا کرد که تفاهمنامه اول در مورد حامی عمومی لباس برای سلسله مسابقات ۲۰ آوره مقابل تیم ویست اندیز میباشد و تفاهمنامه دومی نیز در بخش اکادمیک بوده، که به اساس آن همه کارمندان و بازیکنان ملی کریکت بورد افغانستان از تخفیف ویژه این پوهنتون برخوردار شدند و این کار بخاطر بلند بردن سویه ی هر دو نهاد میباشد.

در این تفاهمنامه گفته شده که در بدل آن کریکت بورد افغانستان نیز در بخش تخنیکی کریکت به محصلین پوهنتون کاردان آموزش میدهند. باید گفت به اساس این تفاهمنامه پوهنتون کاردان به کارمندان و بازیکنان اداره کریکت بورد افغانستان در بخشهای لسانس و ماستری و همچنان کورسهای کوتاه مدت همکاری ویژه میکند.

این تفاهمنامه ها بین رییس اجراییه کریکت بورد افغانستان محترم لطف الله ستانکزی و رییس پوهنتون کاردان محترم روین رحمانی به امضاء رسیدند که در هنگام این نشست محترم لطف الله ستانکزی از رییس پوهنتون کاردان تشکری کرده گفت، جای افتخار است که امروز کریکت بورد افغانستان با یک اداره علمی و اکادمیک دو تفاهمنامه به امضاء می رسانند و آروز دارد که این همکاری ها ادامه یابد.

همچنان محترم روین رحمانی رییس پوهنتون کاردان نیز گفت، خوش است که با یک اداره ملی و با افتخار سند تفاهمنامه را امضاء میکند. بازیکنان ملی قهرمانان راستین این کشور میباشند که در حقیقت برای افغانستان دست آوردها و افتخارات زیادی آفریده اند. همچنان وی گفت با اطمینان کامل میگوید که در آینده نیز با اداره کریکت بورد آماده امضای هر نوع تفاهمنامه همکاری میباشند.

برعلاوه آن اداره کریکت بورد افغانستان و شرکت هواپیمایی کام ایر نیز بخاطر مسابقات ویست اندیز که از تاریخ ششم ماه نوامبر تا اول دسامبر سال جاری در کشور هندوستان برگزار میشود، تفاهنامه مشارکت هواپیمایی یا Airline Partnership امضاء کردند که شرکت متذکره با کارمندان و بازیکنان این اداره در بخش تکتها از کابل تا دهلی جدید و از دهلی به کابل همکاری میکند که در بدل اش کریکت بورد افغانستان نیز با این شرکت در عرصه بازاریابی همکاری میکند.



محترم لطف الله ستانکزی رییس اجراییه کریکت بورد افغانستان در هنگام امضای این تفاهنامه از مسوولین شرکت هواپیمایی کام ایر تشکری نموده گفت، امضای تفاهنامه شرکت محترم کام ایر با اداره کریکت بورد افغانستان برای این شرکت یک تجربه خوب خواهد بود و از مسوولین محترم این شرکت میخواهد که در آینده نیز با اداره کریکت بورد در عرصه های دیگر تفاهمنامه را به امضا رسانند و به همکاری های خود ادامه دهند.

همچنان محترم سلیمان عمر رییس تجارت این شرکت خصوصی در هنگام امضای قرارداد با اداره کریکت بورد افغانستان اظهار خرسندی نموده گفت، این نخستین بار است که شرکت هواپیمایی کام ایر با اداره کریکت بورد همچو یک قراردادی را به امضاء می رسانند و افزود، علاقه مند است که در آینده نزدیک با اداره کریکت بورد افغانستان یک قرارداد طولانی مدت نیز داشته باشد تا به همکاری های خود ادامه دهند.

باید گفت که کریکت بورد افغانستان تلاش می ورزد تا همه سرمایه گزاران و تجاران ملی را بخاطر سرمایه گزاری در بخش کریکت تشویق نمایند و در این عرصه سرمایه گزاری کنند.

باید یادآور شد کریکت بورد افغانستان و کمپنی خان ستیل نیز تفاهمنامه حقوق حامی عمومی لباس برای مسابقات یک روزه مقابل ویست اندیز به امضاء رساندند.

در این تفاهمنامه یادآوری به عمل آمده که کمپنی خان ستیل حقوق حامی عمومی لباس بازیکنان ملی کریکت برای سه مسابقه یک روزه مقابل ویست اندیز که در ماه نوامبر برگزار میشود، بدست آوردند.

محترم لطف الله ستانکزی رییس اجراییه کریکت بورد افغانستان، در هنگام امضای این قرارداد اظهار خوشی نموده افزود، جای افتخار است که شرکتهای ملی در عرصه کریکت سهم گرفته و سرمایه گزاری میکنند.

موصوف گفت: ((ما افتخار میکنیم که یکجا با شرکتهای ملی خود کار میکنیم. کریکت برای همه سرمایه گزاران و شرکتها در عرصه سرمایه گزاری جای مناسب میباشد و اداره کریکت بورد افغانستان نیر در راستای همکاری طولانی مدت با همکاران خود علاقه مند است.))

همچنان شهاب وردگ مسوول ارتباطات کمپنی خان ستیل نیز گفت، آروز دارد که با کریکت بورد افغانستان مشارکت دوامدار و طولانی مدت داشته باشد. وی همچنان افزود، میخواهند که در سفرهای آینده و عرصه های دیگر نیز با کریکت بورد همکار بمانند و در این راستا علاقه مندی زیادی دارد.

قابل یادآوری است که تیم ملی کشور از تاریخ ٦ نوامبر الی اول ماه دسامبر سال جاری مقابل تیم ویست اندیز به میزبانی خود در کشور هندوستان سه بازی یک روزه و سه بازی بیست آوره بین المللی و همچنان یک بازی تیست انجام دهد.



له ځوان لوبغاړي

رحمن الله ګربز

سره ځانګړې مرکه

ګرانو لوستونکو او د کرکټ مینه والو، په دې هیله چې خوشحاله اوسئ، د افغانستان کرکټ بورډ د مجلې لپاره د هېواد تکړه او ځوان لوبغاړي رحمن الله ګربز سره ځانګړې مرکه لرو، په پیل کې ورته ښه راغلاست وایو، پخپر راغلئ.

رحمن الله ګربز: مننه، تاسو او ټولو لوستونکو ته سلامونه وړاندې کوم.

پوښتنه: ګربز صېب! لومړی پوښتنه درنه دا کوو چې کرکټ دې څنګه او کله پیل کړ؟

ځواب: کرکټ خو ما په ۲۰۱۴م کال کې پیل کړ، په ۲۰۱۴ کې افغانستان ملي لوبډلې په دوبی کې کپ وګټلو او له دغه وخت راهیسې زما هم له کرکټ سره ډېره مینه پیدا شوه.

پوښتنه: د لومړي ځل لپاره دې چېرته کرکټ وکړ؟

ځواب: د لومړي ځل لپاره مې په خوست کې کرکټ پیل کړ.

پوښتنه: کرکټ ته چا ډېر هڅولی یې؟


ځواب: په کورنۍ کې مې وروټو محمد قاطع او احمد ولي کرکټ ته ډېر هڅولی یم، همدا راز محمد خان ځدرانِ او نوروز منګل ډېر هڅولی یم.

پوښتنه: په ژوند کې دې تغیرات راغلل، د خپل ژوند نه اوس څومره خوښ یې؟

ځواب: ډېر خوشحاله یم، د الله نه ډېر راضي یم، یو خوب و چې اوس په حقیقت بدل شو، اوس چې ځان ګورم نو ټېر وختونه راته یادېږي او ډېر خوشحاله یم.

پوښتنه: که کرکټ دې نه کولو نو داسې څه و چې کولی به دې؟

ځواب: تعلیم مې کولو، خو کله چې مې کرکټ ته مخه کړه، نو تعلیم سره مې علاقه کمه شوه او ډېر وخت مې کرکټ ته ورکړ. که مې کرکټ نه کولو نو یا به ډاکټر یا انجنیر وای، ځکه اول مې له تعلیم سره



ډېره زیاته مینه وه، پلار مې هم غوښتل چې ډاکټر یا انجنیر شم، خو وروسته مې له کرکټ سره مینه زیاته شوه او اوس لوبغاړی شوم.

پوښتنه: کله چې دې کرکټ پیل کړ، نو په لومړي ځل درته توپ اچونه چا وکړه؟

ځواب: په ډومیستیک کې ډېر مېچونه تېر شو، زه نه پوهېږم چې چا به راته اول توپ کړی وي، همدا راز په نړیوالو لوبو کې په لومړي ځل د زمبابوې یو توپ اچونکي توپ اچونه وکړه، همدا راز په فرسټ کلاس لوبو کې راته لومړی ځل توپ اچونه ګلبدین نایب کړې او په لېسټ اې کې راته بیا چټارا لومړی توپ کړی دی، هغه مهال چې زه زمبابوې ته د الف لوبډلې سره یو ځای تلی وم.

پوښتنه: هغه مهال چې کرکټ دې نه و پیل کړی او ماشوم وې، نو د افغانستان په ملي لوبغاړو کې دې څوک ډېر خوښېدل او په بهرنیو لوبغاړو کې دې څوک خوښېدل؟

ځواب: د افغانستان په ملي لوبغاړو کې مې د نوروز منګل لوبه ډېره خوښېده، په بهرنیو لوبغاړو کې مې بیا د اې بي ډیویلیرز لوبه ډېره خوښېده او هغه مې ډېر تعقیباوه.

پوښتنه: په کلیو او باندو کې چې دې کرکټ کولو نو په کوم پوزیشن به دې توپوهنه ترسره کوله؟

ځواب: له ماشومتوبه چې مې کرکټ کولو نو چا به توپوهنې ته ډېر نه پرېښودم او ویکټ ساتنه به بیا زما په برخه وه، کله چې بیا توپوهونکی شوم نو زما له پیله د پیل د توپوهونکي سره مینه وه، نو هر کله به مې هڅه کوله چې توپوهنه زه پیل کړم. په کلیوالي کرکټ کې بیا په دې باندې لانجې وي، نو زیاتره وخت به د پیل توپوهونکی یا هم دویم او دریم توپوهنې ته راتللم.

پوښتنه: له پیله همداسې تېز توپوهونکی وې او که نه اول دې توپوهنه په ورو کوله؟

ځواب: زما د کرکټ سټایل همدا دی، زما تېزه لوبه خوښېږي، خو زه بیا د روزونکي د پلان تر مخه لوبه کوم، کله چې راته ووایي تېزه لوبه وکړه نو تېزه لوبه کوم او که راته ووایي چې ورو توپوهنه کوه نو بیا په ورو توپوهنه کوم.

پوښتنه: ایا کله دې فکر کړی و چې دومره لوی ستوری به شې او په نړیواله کچه به وپېژندل شې؟

ځواب: نه، داسې فکر مې کله نه و کړی، خو یو خوب او ارمان مې و، زه هیڅکله هم د سبا لپاره فکر نه کوم، په روانه ورځ باندې خواري ډېره کوم او خپل ځان ته هدفونه ټاکم، خو داسې فکر مې کله نه و کړی چې د ملي لوبډلې لوبغاړی به شم، خو یو خوب مې لیدلی و او د هغې لپاره مې خواري وکړه چې اوس ستاسې مخې ته ناست یم.

پوښتنه: په ۱۹ کلنو لوبډله کې چې دې کله د افغانستان استازولي کوله نو څه احساس دې درلوده او په ملي لوبډله کې چې دې د افغانستان استازولي کوله نو څه احساس دې کاوه؟

ځواب: ډېر زیات خوشحاله وم، ډېر زیات ویاړېدم، ځکه په لومړي ځل له ۱۹ کلنو سره په لوبډله کې لاړم، په لومړي ځل مې هلته ښه لوبه وکړه، نو ډېر زیات خوشحاله وم. کله چې د ملي لوبډلې لباس په تن کړې نو بیا په سړي فشار هم ډېر وي، خو ډېر خوشحاله وم. کله چې ملي لوبډلې ته راغلم نو دلته خو ټول تر ما سینئیر لوبغاړي و لکه راشد، نبي، اصغر او نور... نو نوروز دوی به ماته





ډېرې خبرې کولې او زه به يې هڅولم، همدا لامل و چې زه په فشار کې نه يم راغلی او ښې لوبې مې وکړې.

پوښتنه: د لومړي ځل لپاره چې د افغانستان لوبډلې ته راغلې، دا زېرى دې له کومه ترلاسه کړ؟

ځواب: د زمبابوې او بنګله دېش سره زمور د الف لوبډلې لوبې وې، چې ما هلته ښه لوبه وکړه او کله چې ښه لوبه څوک وکړي، نو خامخا به مخکې راځي. خو زما فکر نه و چې دوی به ما په ملي لوبډله کې واخلي، خو کله چې ما خپل نوم ولیده، نو ټولو خلکو مبارکی راکړې، هغه وخت ډېر زيات خوشحاله وم، په کالیو کې نه ځايېدم، هېڅ مې دا احساس نه کاوه چې دا دې زما نوم وي، په لومړي ځل په ملي لوبډله کې خپل نوم ليدل دا ډېر د خوشحالی ځای دی.

پوښتنه: په ۱۹ کلنو کې چې تا توپوهنه کوله، په لومړي توپ دې څو منډې وکړې او په ملي لوبډله کې چې راغلې او لومړی توپ درته وشو نو څو منډې دې جوړې کړې؟

ځواب: په ۱۹ کلنو کې مې د بنګله دېش پر وړاندې خپله لومړۍ لوبه ترسره کړې وه، په لومړيو دوه لوبو کې ښه ونه ځلېدم، او بيا د پاکستان پر وړاندې په اسيا کپ کې چې کله راته لومړی توپ وشو نو ځلوريزه مې ووهله، په دويم توپ مې هم ځلوريزه ووهله او په دريم توپ مې هم ځلوريزه ووهله. په ملي لوبډله کې مې بيا په لومړيو درې توپونو کومه منډه نه ده ترلاسه کړې خو په ځلورم او پنځم توپونو مې بيا ځلوريزې وهلي دي.

پوښتنه: په راتلونکي کې څه هدفونه لرې؟

ځواب: هدف مې همدا دی چې د هېواد استازولي وکړم او د هېواد لپاره لوبه وکړم، بل کوم خاص هدف نه لرم، نه هم په ځان کوم فشار راولم چې ليګونو کې دې ولوبېږم، يوازينی هدف مې همدا دی چې په ملي لوبډله کې ښه لوبغاړی پاتې شم او ښه لوبه وکړم، چې په هر سخت وخت کې د افغانستان لپاره ښه ولوبېږم او د افغانستان د ځوربډلي ولس په شونډو خنداوې راولم. همدا مې هدف



او همدا مې ارمان هم دی.

پوښتنه: تاسې د ۱۹ کلنې لوبډلې څخه تر ملي لوبډلې ورسېدئ او ډېره ښه لوبه مو وکړه، خلکو ډېر خوښ کړئ، اوس ځوان يې او کورنۍ مو درته څه پېغام درکوي چې بايد څه واوسئ؟

ځواب: ما مخکې هم وويل، چې زما پلار تعليم يافته دی، همداسې مې وروڼه هم، هر وخت راته دا خبره کوي چې هر کار چې کوې نو خپله سل سلنه خواري به کوې او ماتې به هېڅکله هم نه منې. دوی ماته تل همدا پېغام راکوي چې ماته به نه منې، خپله خواري او زيار به وباسي. کله چې کوم لوبغاړی ډراف شي، نو مايوسه شي، خو ماته مې کورنۍ وايي چې په سخت وخت کې به لا هم ډېره خواري کوې.

پوښتنه: تاته په لوبه کې کوم شاټ خوند درکوي او د خوښې شاټ دې دی؟

ځواب: زما خو سويپ شاټ ډېر خوښ دی او وهم يې هم، همدا راز دا څه وخت کېږي چې سوځېږم هم پرې ډېر، همدا راز ايکسټرا کور شاټ مې هم ډېر خوښېږي، خو لکه زه چې څومره پرې ډاډه يم او توپ اچونکی هم رانه پرې ويرېږي، هغه سويپ شاټ دی.

پوښتنه: د سپينر توپ اچونکي سره ډېر خوشحاله يې او که د چټک توپ اچونکي سره، چې ورته مخامخ شې؟

ځواب: زه له دواړو سره خوشحاله يم، ځکه زه د پيل توپوهونکی يم نو زه له يوه هم ويره نه لرم، هر يو راته مخامخېدای شي. تراوسه ما په ذهن کې دا نه ده اچولې چې دا توپ اچونکی تېز دی يا خطرناک دی.

پوښتنه: چې کله رسمي تمرينات وي، يا لوبو کې نه يې نو څومره تمرينات کوې؟

ځواب: زه خو په خپله ډېره زياته خواري کوم، سهار چې اته بجې راشم نو مابنام کور ته ځم. ډوډی، لمونځ هر څه په اکاډمی کې کوم. د ورځې په جريان کې بل کوم کار نه کوم، يوازې د جمعې په ورځ بيا دمه کوم، نور ټوله ورځ تمرينات کوم.

پوښتنه: ستا په نظر چاته ډېر ګران يې؟

ځواب: په کورنۍ کې مې ټولو ته ګران يم، مور، پلار، وروڼو، خويندو او په هېواد کې نه يم خبر چې چاته به ډېر ګران يم.

پوښتنه: تاته څوک ډېر ګران دي؟

ځواب: په لوبغاړو کې راته ټول ډېر ګران دي، خو پخوانی لوبغاړی او اوسنی روزونکی نوروز منګل راته ډېر ګران دی، ځکه د يوه ورور په ځېر يې هڅولی يم، چې وزګار يم له هغه سره ډېره ناسته پاسته کوم.

پوښتنه: په کوم ډول توپ غټ شاټ وهلی شې؟

ځواب: کوم چې د وهلو توپ وي، نو هغه وهم او شاټ پيچ راته خوند راکوي، چې شېريزه ووهم، نور خو چې په کرکټ کې درته توپ راشي، نو به يې خامخا وهې.

پوښتنه: هر لوبغاړی غواړي چې په هر حالت کې ښه لوبه وکړي، خو ته په کوم حالت کې غواړې چې ډېره ښه لوبه وکړې؟

ځواب: حالات خو هر يو لوبغاړی غواړي چې ځان ته اسان حالت جوړ کړي، خو زه غواړم چې داسې ځان جوړ کړم چې هر وخت لوبډله له سخت حالته وباسم، زه خو د پيل توپوهونه کوم، نو دا زما په غاړه وي چې لوبډلې ته ځنګه پيل ورکړو، که مور ښه لوبه وکړه نو لوبډلې ته به اسانه وي او که ښه پيل ونکړو نو لوبډلې ته به سخته وي، خو هر وخت هڅه کوم چې لوبډلې ته ښه پيل ورکړم.

پوښتنه: په سفر کې د کوم لوبغاړي سره خوشحاله يې؟

ځواب: ټولو سره ډېر خوشحاله يم، هر چا سره چې مخامخېږم نو له زړه نه راته ګران دي او مينه ورسره لرم.

پوښتنه: په تازه مېوه کې دې څه شی خوښ دي؟

ځواب: انار

پوښتنه: د خپلو دوستانو سره کوم حالت کې ډېر خاندې او ټوکې ورسره کوې؟

ځواب: ډېر نه خاندم، ډېره خندا خوند نه راکوي، خو که څوک ټوکه وکړي يا جالبه خبره وکړي نو بيا خاندم.

پوښتنه: په افغانستان کې دې کوم ولايت ډېر خوښ دی؟

ځواب: خوست ولايت مې ډېر خوښ دی، که څه





هم ډېر وخت مسافر یم او خوست مې لیدلی هم نه دی.

پوښتنه: کوم لوبغالی دې خوښېږي؟

ځواب: د ننګرهار غازي امان الله خان لوبغالی.

پوښتنه: د سفر پر مهال په کورنۍ کې په چا پسې خفه کېږي؟

ځواب: مور او پلار پسې.

پوښتنه: په ۱۹ کلنو لوبډله کې دې تر ټولو ښه ملګری څوک و؟

ځواب: ټول ښه و، خو مجیب، ابراهیم او اکرام مې ډېر ښه ملګري وو.

پوښتنه: په کوم ځل اوټ کېدلو باندې ډېر زیات خپه شوی یې؟

ځواب: درې ځلې ډېر زیات خپه شوی یم، یو ځل د پاکستان پر وړاندې په پایلوبه کې چې زه په ۴۰ مندو اوټ شوم، د نړیوال جام په سیمي فاینل کې چې د استرالیا پر وړاندې اوټ شوم او یو ځل په شپږیزه کې چې کله په پایلوبه کې اوټ شوم، نو ډېر خپه شوم.

پوښتنه: کوم رنګ دې ډېر خوښېږي؟

ځواب: تور او سور رنګ.

پوښتنه: په افغانستان کې چې کوم ځوانان کرکټ کوي، هغوی ته د یوه ځوان په توګه کوم پیغام ورکوې؟

ځواب: ټولو ځوانانو لپاره زما پیغام دا دی، چې لومړی تعلیم وکړئ، زده کړې وکړئ، چې وخت له لاسه ورنکړئ، له هر سپورټ سره چې شوق لرئ، پوره خواري وکړئ.

پوښتنه: له څه شي ډېر ویرېږي؟

ځواب: له مار څخه.

پوښتنه: له څه شي ډېره کرکه لرې؟

ځواب: له جنګ، دروغو او دوکې څخه مې ډېره کرکه راځي.

پوښتنه: زده کړې دې څومره کړي؟

ځواب: تر دولسم پورې مې زده کړې کړي دي او پلان لرم چې پوهنتون او د کمپیوټر ساینس برخه هم ولولم.

پوښتنه: کومه جالبه خاطره لرې؟

ځواب: جالبه خاطره دا وه، چې په اول ځل په ولایتي لوبډله کې انتخاب شوم، نو خلکو راپسې ډېرې خبرې کولې چې په واسطو راغلی دی، مور د لغمان سره لوبه کوله، په یو توپ ۴ مندې پکار وې، زه ولاړ وم او په لومړي ځل خوست فاینل ته لاړه موندله، هغه اول توپ ته مخامخ شوم او ځلوریزه مې ووهله، دا زما لپاره ډېره جالبه او په زړه پورې خاطره وه.

پوښتنه: ډېره زیاته مننه چې مرکه مو راسره وکړه.

ځواب: له تاسې هم ډېره مننه.

شکیب الحسن
د کرکټ نړیوالې شورا
له لورې له دوه کلن بندیز سره مخ شو



د کرکټ نړیوالې شورا یا ایې سي سي د بنګله دېش کرکټ ملي لوبډلې مخکښ الراوندړ، د ټېسټ او شل اوریزو لوبډلو لوبډلمشر او د یو ورځنیو لوبو تر ټولو غوره الراوندړ شکیب الحسن له دوه کلن بندیز سره مخ کړ.

شکیب الحسن باندې د کرکټ نړیوالې شورا د فساد ضد قانون د درې مادو څخه د سرغړونې تور و، چې په دغه برخه کې پر هغه د اکتوبر په ۲۹مه نېټه دوه کلن بندېز ولګول شو، نوموړي خپله تېروتنه منلې ده او له همدې امله هغه به یو کال حتمي له هر ډول کرکټ څخه بند وي، یعنې د ۲۰۲۰ کال تر اکتوبر میاشتې پورې هغه هېڅ کرکټ نه شي کولای، خو له یو کال وروسته به بیا پرېکړه کېږي چې ایا شکیب الحسن بیرته کرکټ پیلولی شي او که نه؟

نوموړي د هغو پیغامونو په تړاو د کرکټ نړیواله شورا نه وه خبره کړې چې نوموړي ته د بېلابېلو لوبو پر مهال د فساد یا درغلۍ په تړاو شوي و، د ۲۰۱۸ په جنورۍ میاشت کې د بنګله دېش، سریلانکا او زمبابوې ترمنځ د درې اړخیزه سیالیو او د هند تجارتي لیګ پر مهال هغه ته په وټساپ پیغامونه لېږل شوي و، د دغه لوبو پر مهال له هغه څخه د فساد یا فیکسینګ غوښتنه شوې وه او همدا راز له هغه څخه د ډالرې حساب غوښتنه هم شوې وه.

د کرکټ نړیوالې شورا د فساد ضد قانون کې ویل شوي دي، چې په کرکټ کې د درغلۍ، فساد او فیکسنګ په تړاو که له هر لوبغاړي سره څوک اړیکې نیسي، نو هغوی دې د کرکټ نړیوالې شورا اړوندې برخې، خپل کرکټ بورډ او اړوند مسوولینو ته په دې تړاو راپور ورکوي، خو شکیب الحسن دغه راپور نه و ورکړی او د دغه قانون د درې مادو څخه یې سرغړونه کړې وه، چې پکې تورن شو. د دغه مادو له مخې د داسې سرغړونو په صورت کې لوبغاړو باندې لږ تر لږه ٦ میاشتې او زیات نه زیات ۵ کاله بندیز لګول کېدلی شي.

د دغه قانون موخه دا ده چې د کرکټ لوبې باید له هر ډول فساد، درغلیو او فیکسینګ څخه پاکې وي

او خلک له فساده پاک کرکټ څخه خوند واخلي.

شکیب الحسن له دغه دوه کلن بندیز سره په داسې مهال کې مخ شو چې څو ورځې مخکې یې د بنګله دېش کرکټ بورډ پر ضد احتجاج هم کړی و او د دغه احتجاج مشري هم نوموړي کوله، دوی له بنګله دېش کرکټ بورډه ۱۱ غوښتنې کړې وې او ویل یې چې ترڅو دغه غوښتنې نه وي منل شوې، نو دوی به کرکټ ونکړي. په دغه غوښتنه کې لومړۍ غوښتنه دا وه چې باید د لوبغاړو معاشونه او ورځنی فیس زیات شي.

د یو کال بندیز تېرولو وروسته که چېرې شکیب الحسن په دې وتوانېده چې د کرکټ نړیوالې شورا اړونده څانګه او د بنګله دېش کرکټ بورډ مسوولین مطمین کړي، نو هغه به وکولای شي چې د ۲۹م اکتوبر ۲۰۲۰ نه وروسته کرکټ ته بیرته راشي او نړیوال کرکټ پیل کړي، خو دغه پرېکړه به هغه مهال کېږي.

همدا راز شکیب الحسن هم د کرکټ نړیوالې شورا له لورې لګول شوی بندیز منلی دی او خپله تېروتنه یې هم منلې ده. هغه په خپلو خبرو کې ویلي چې کرکټ سره زه ډېره مینه لرم او ډېر زیات خپه یم چې له دغه بندیز سره مخ کېږم، خو زه دا هم منم چې دغه تېروتنه ما کړې ده.

نوموړي همدا راز ویلي دي چې د کرکټ نړیوالې شورا د فساد ضد څانګه په لوبغاړو تکیه کوي او په دغه برخه کې ما خپله ذمه واري نه ده ترسره کړې. هغه وایي چې د کرکټ د مینه والو تر څنګ زه هم غواړم چې کرکټ دې له هر ډول فساد نه پاک وي.

شکیب الحسن همدا راز وایي، چې نوموړی د ایي سي سي د ښوونیزو پروګرامونو ملاتړ هم کوي او هڅه به وکړي چې ځوانان په دې پوه کړي چې نوموړي کومه تېروتنه کړې ده، دوی هغه تېروتنه ونکړي.





د ایي سي سي کرکټ نړیوال جام سوپر لیګ او راتلونکی نړیوال جام



د یو ورځنیو لوبو تر راتلونکي کرکټ نړیوال جام چې په ۲۰۲۳ کال کې ترسره کېږي، مخکې د ۲۰۲۰ نه تر ۲۰۲۲ پورې سوپر لیګ لوبې ترسره کېږي، چې هره لوبډله به له نورو لوبډلو سره ۸ لوبلړی ترسره کوي، چې په دغه لوبلړیو کې به ۴ په خپل هېواد او ۴ په نورو هېوادونو کې لوبوي.

د ایي سي سي کرکټ نړیوال جام سوپر لیګ چې د ۲۰۲۰ په مې کې پیلېږي او د ۲۰۲۲ تر مارچ میاشتې پورې به دوام وکړي، د راتلونکي نړیوال جام ۲۰۲۳ کال لپاره د کوالیفایي لاره هم ده، چې له همدغې لارې نړیوال جام ته لوبډلې لار پېدا کړي.

د یو ورځنیو لوبو راتلونکی نړیوال جام چې ۱۳م نړیوال جام دی، د فروري له ۹مې نېټې د مارچ تر ۲۶مې نېټې په ۲۰۲۳ کال کې په هند کې ترسره کېږي.

دغه نړیوال جام ته هند له مخکې لار پېدا کړې ده، د بشپړ غړیتوب درلودونکي ۷ لوبډلې به د ایي سي سي کرکټ نړیوال جام سوپر لیګ څخه ورته لار پېدا کړي، همدا راز دوه لوبډلې به بیا د ۲۰۲۲ کرکټ نړیوال جام کوالیفایر لوبو نه ورته لار پېدا کړي.

په سوپر لیګ کې بیا ۱۲ بشپړ غړیتوب لرونکې لوبډلې لوبېږي، همدا راز د ۲۰۱۷-۲۰۱۵ ایي سي سي نړیوال کرکټ لیګ چیمپینشپ په اتلولي سره به نیدرلنډز هم د دغه لیګ برخه وي.

په دغه لیګ کې هره لوبډله د دري لوبو لوبلړی ترسره کوي، چې افغانستان به له استرالیا، ایرلنډ، نیدرلنډز، پاکستان، بنګله دېش، هند، سریلانکا او زمبابوې سره لوبلړی ترسره کړي. همدا راز په دغه لیګ کې به افغانستان د انګلستان، نیوزیلنډ، سویلي افریقا او ویسټ انډیز سره لوبې ترسره نه کړي.

افغانستان به په ۲۰۲۱ کال کې د جنورۍ په میاشت کې له ایرلنډ، د فروري په میاشت کې له هند، د جولای په میاشت کې له سریلانکا، د سپتمبر په میاشت کې له پاکستان، د نومبر په میاشت کې له زمبابوې او د دسمبر په میاشت کې له نیدرلنډز سره د ۳ لوبو لوبلړی ترسره کړي.


د ۲۰۲۲ کال په فروري میاشت کې له بنګله دېش سره او د مارچ په میاشت کې له استرالیا سره د ۳ لوبو لوبلړی ترسره کړي، خو د یادولو ده چې د یادو لوبو ځایونه تراوسه نه دي مشخص شوي، چې دغه لوبې به چېرته ترسره کېږي.

په دغه لیګ کې ۷ غوره لوبډلې به د ۲۰۲۳ نړیوال جام ته لار پېدا کړي، همدا راز هند له مخکې لار پېدا کړي ده. د سوپر لیګ ۵ لوبډلې به بیا د نړیوال جام کوالیفایر لوبو ته لاړې شي.

د نړیوال جام کوالیفایر لوبو ته د سوپر لیګ نه ۵ لوبډلې ورځي، همدا راز د ایي سي سي کرکټ نړیوال جام لیګ ۲ سیالیو نه به ورته ۳ غوره لوبډلې لار پېدا کړي. د نړیوال جام لیګ ۲ سیالیو نه بیا ۴ لوبډلې د کرکټ نړیوال جام پلی آف لوبو ته لار پېدا کوي، پلی آف لوبو ته همدا راز د ایي سي سي کرکټ نړیوال جام چېلنج لیګ سیالیو څخه هم دوه غوره لوبډلې لار پېدا کوي.

له پلی آف څخه به بیا دوه غوره لوبډلې د نړیوال جام کوالیفایر لوبو ته لار پېدا کړي، چې هلته به بیا د سوپر لیګ ۵ لوبډلې، د لیګ ۲ دري لوبډلې او د پلی آف ۲ لوبډلې سره په خپل منځ کې مخامخ شي، چې له هغه ځایه به دوه غوره لوبډلې نړیوال جام ته لار پېدا کړي او په نړیوال جام کې به ۱۰ لوبډلې مخامخ شي.

د یادولو ده چې د ایي سي سي کرکټ نړیوال جام لیګ ۲ سیالی د اګست ۲۰۱۹ څخه تر جنورۍ ۲۰۲۲ پورې ترسره کېږي او ۷ لوبډلې پکې ګډون لري. د ایي سي سي کرکټ نړیوال جام چېلنج لیګ سیالی د ۲۰۱۹ سپتمبر نه تر ۲۰۲۱ اکتوبر پورې ترسره کېږي او ۱۲ لوبډلې په کې ګډون لري. همدا راز پلی آف لوبې به بیا په ۲۰۲۲ کې ترسره شي.



د ټېسټ سیالیو
هغه درې لوبغاړي چې ډېرې غبرګې سلیزې یې وهلې

په کرکټ کې تر ټولو ښه توپوهونکی هغه دی چې په ټېسټ سیالیو کې ښه لوبه وکړي. ځکه چې د کرکټ دغه اوږده بڼه ډېره خواري غواړي چې د هر توپوهونکي د وس خبره نه ده. ویراټ کوهلي بیا هغه لوبغاړی دی چې ورځ تر بلې نړیوال ریکارډونه ماتوي او نوي ریکارډونه جوړوي.

د هندی کرکټ ملي لوبډلې لوبډلمشر ویراټ کوهلي د سویلي افریقا سره په دویمه ټېسټ سیالی کې یو ځل بیا غبرګه سلیزه پوره او دا یې په ټېسټ سیالیو کې ۷مه غبرګه سلیزه شوه. هغه لومړنی هندی توپوهونکی شو چې په ټېسټ سیالیو کې ۷ غبرګې سلیزې وهي. خو تر هغه بیا درې توپوهونکي مخکې دي، چې په ټېسټ سیالیو کې یې تر نورو ډېرې غبرګې سلیزې وهلي دي.

که د هندی کرکټ لوبډلې لوبډلمشر ویراټ کوهلي همداسې روان وي، نو هیله شته چې د نورو ډېرو ریکارډونو د ماتولو تر څنګ په ټېسټ سیالیو کې د غبرګو سلیزو ریکارډ هم مات او خپل نوم یې په سر کې راولي، خو اوس د هغه درې توپوهونکو په تړاو معلومات رااخلو، چې په ټېسټ سیالیو کې یې تر نورو ډېرې غبرګې سلیزې وهلي دي.





۱: سر ډونالډ بربډمېن (۱۲ غبرګې سلیزې)

ډونالډ بربډمېن هغه توپوهونکی دی چې د زیاتو غبرګو سلیزو وهلو ریکارډ لري. هغه په ټېسټ سیالیو کې تر نورو توپوهونکو ډېر ځل له ۲۰۰ زیاتې منډې کړي، هغه یوازې ۵۲ ټېسټ سیالی ترسره کړي او ۱۲ ځل یې غبرګې سلیزې وهلې دي.

نوموړي په ۳۱-۱۹۳۰ کې د غبرګو سلیزو پیل وکړ. هغه په ۱۹۳۰ کال کې د انګلستان لوبډلې په وړاندې په ایشیز سیریز کې درې غبرګې سلیزې وهلې.

نوموړي همدا راز د ویسټ انډیز، سویلي افریقا او هند پر وړاندې هم غبرګې سلیزې وهلي دي خو تر ټولو زیاتې سلیزې یې بیا د انګلستان پر وړاندې وهلي دي. هغه خپله وروستۍ غبرګه سلیزه د هند په وړاندې په ۱۹۴۸ کال کې ووهله او دغه ستر ریکارډ یې په خپل نوم کړ، چې تراوسه پورې چا نه دی مات کړی.`

۲ : کمار سنګاکارا (۱۱ غبرګې سلیزې)

د سریلانکایي لوبډلې پخوانی ویکټ ساتونکی او توپوهونکی کمار سنګاکارا بیا هغه اسیایي توپوهونکی دی چې تر ټولو زیاتې غبرګې سلیزې یې وهلي دي. نوموړي د سریلانکا لوبډلې لپاره ۱۳۴ ټېسټ لوبې ترسره کړي دي، چې خپلې لومړۍ دوه غبرګې سلیزې یې له سریلانکا بهر په نورو هېوادونو کې وهلي دي.

نوموړي خپله لومړۍ غبرګه سلیزه د پاکستان په لاهور او دویمه یې بیا د زمبابوې پر وړاندې بولاوایو کې ووهله. هغه همدا راز په سریلانکا کې بیا د سویلي افریقا په وړاندې د ۲۳۲ منډو توپوهونه ترسره کړه. له هغه دوه کاله وروسته یې بیا د همدغه لوبډلې په وړاندې د ۲۸۷ منډو توپوهنه وکړه. په ۲۰۰۷ کې نوموړي د بنګله دېش په وړاندې دوه غبرګې سلیزې د ۸ ورځو ترمنځ ووهلې. همدا راز خپله اوومه غبرګه سلیزه یې بیا د هند په وړاندې ووهله. نوموړي د خپل ټېسټ کرکټ تر ټولو زیاتې منډې بیا د بنګله دېش په وړاندې جوړې کړې، چې په ۲۰۱۴ کې یې ۳۱۹ منډې ترلاسه کړې.

همدا راز د پاکستان په وړاندې یې هم غبرګه سلیزه پوره کړه او خپله وروستۍ غبرګه سلیزه یې بیا په ۲۰۱۵ کې د نیوزیلنډ لوبډلې په وړاندې ووهله.

نوموړي په ۱۳۴ ټېسټ سیالیو کې ۱۱ غبرګې سلیزې ووهلې او تر ډونالډ بربډمېن وروسته دویم توپوهونکی شو چې په ټېسټ سیالیو کې یې زیاتې غبرګې سلیزې وهلي دي.





۳ : براین لارا (۹ غبرګې سلیزې)

د ویسټ انډیز مخکښ توپوهونکی براین لارا، چې په ټېسټ سیالیو کې یې تر ټولو زیاتې منډې کړي دي، هغه همدا راز په خپل ۱۶ کلن کرکټ کې ۹ ځلې غبرګې سلیزې هم وهلي دي.

نوموړي په لومړي ځل خپله غبرګه سلیزه په ۱۹۹۳ کال کې د استرالیا په وړاندې وهلې وه. له هغه وروسته یې په ۱۹۹۴ کې د انګلستان په وړاندې د ۳۷۵ منډو توپوهنه ترسره کړه. همدا راز پنځه کاله وروسته نوموړي بیا بله غبرګه سلیزه ووهله، خو د ۱۹۹۹ څخه تر ۲۰۰۳ پورې نوموړي بیا ځلور غبرګې سلیزې په خپل نوم کړې.

په ۲۰۰۴ کې بیا نوموړي د ۴۰۰ منډو په زړه پورې توپوهنه د انګلستان په وړاندې ترسره کړه، چې په ټېسټ سیالیو کې د یوه توپوهونکي له لوري تر ټولو زیاتې منډې دي.

نوموړي خپلې وروستۍ دوه غبرګې سلیزې له ویسټ انډیز بهر وهلي دي، یوه یې د استرالیا په وړاندې په ۲۰۰۵ کې او بله یې بیا د پاکستان په وړاندې په ۲۰۰۶ کې ووهله، چې ۲۲۶ او ۲۱۶ منډې یې کړې وې.

براین لارا تر بربډمېن او سنګاکارا وروسته دریم هغه توپوهونکی دی چې ۹ غبرګې سلیزې یې وهلي دي.

همدا راز تر دوی وروسته بیا د هند ویراټ کوهلي، د انګلستان وېلي هاموند او د سریلانکا مهیلا جی وردنی راځي، چې درې واړو ۷-۷ ځلې غبرګې سلیزې وهلي دي.

سارو ګنګولي

د هند کرکټ بورډ مشر وټاکل شو



د هندې کرکټ ملي لوبډلې پخوانی لوبډلمشر سارو ګنګولي د روان زېږدیز کال د اکتوبر په ۲۳مه نېټه د دغه هېواد د کرکټ بورډ مشر وټاکل شو.

د Board of Control for Cricket in India یا BCCI لپاره یوازینی کس سارو ګنګولي و چې د مشرۍ لپاره یې ورته خپل اسناد سپارلي و. نوموړی د هند کرکټ بورډ ۳۹م مشر دی.

سارو ګنګولي د هندې لوبډلې یو له مخکښو لوبډلمشرانو څخه و. هغه په ۲۰۰۸ کال کې له ټېسټ سیالیو استعفا وکړه، چې په ټېسټ سیالیو کې یې ۷۲۱۲ مندې کړې وې او همدا راز ۱۶ سلیزې یې وهلې وې. هغه خپله لومړۍ سلیزه په خپله لومړۍ لوبه کې په لارډز لوبغالي کې وهلې وه.

۴۷ کلن سارو ګنګولي د هند کرکټ بورډ یا BCCI مشر یوازې د ۱۰ میاشتو لپاره غوره شوی دی، ویل کېږي لس میاشتې وروسته به د BCCI د کمېټې وخت پای ته ورسېږي.

سارو ګنګولي په خپلو خبرو کې وویل، چې دا د هغه لپاره د ویاړ ځای دی چې د هند کرکټ بورډ مشر ټاکل شوی دی. هغه وایي په BCCI کې به پراخ اصلاحات راولي او په وړتیا او اصولو به له هیڅا سره جوړجاړی ونه کړي. نوموړی همدا راز زیاتوي چې اداره به له فساد پاکوي او هر څومره وخت چې د دغه اداري مشر وي، په خپلې ټولې وړتیا به د کرکټ د ښه والي لپاره کار وکړي.

د یادولو ده چې سارو ګنګولي د هندې لوبډلې یو له غوره لوبډلمشرانو څخه و، هغه چپ لاسی توپوهونکی و او د نړۍ یو له غوره توپوهونکو څخه و. نوموړي د هند لپاره ۱۱۳ ټېسټ لوبې ترسره کړې وې چې د ۴۲.۱۷ په اوسط یې ۷۲۱۲ مندې کړې وې او په یوه لوبه کې زیاتې مندې یې بیا ۲۳۹ وې. هغه ۱۶ سلیزې او ۳۵ پنځوسیزې هم وهلې دي.

همدا راز نوموړي د هند لپاره په ۳۱۱ یو ورځنیو سیالیو کې هم برخه اخیستې وه، چې د ۴۱.۰۲ په اوسط یې ۱۱۳۶۳ مندې کړې وې او په یوه لوبه کې تر ټولو زیاتې مندې یې ۱۸۳ وې. نوموړي په یو ورځنیو لوبو کې ۲۲ سلیزې او ۷۲ پنځوسیزې هم وهلې وې.

نوموړي له یو ورځنیو سیالیو په ۲۰۰۷ او له ټېسټ سیالیو په ۲۰۰۸ کې استعفا ورکړه. هغه همدا راز د بنګال کرکټ اسوسیشین مشر هم پاتې شوی دی.



and were desperate to perform on the international stage. I can't wait till the U19 World Cup in South African to see some of these guys play because I am backing Afghanistan to go all the way as they have got the skills in the players to really cause a few upsets- and I say upsets, but honestly they shouldn't be called upsets because, these guys have surely got the skills set and it is not that anybody should be surprised if they are winning games and are competitive.

The National side will be playing West Indies, I would say, Watch out West Indies! Afghanistan have won two test matches already and don't bet against them for their third.

Q: Finally, how was your experience in Afghanistan overall, please share some memories you will take from here.

Campbell: Well, look, it is never an issue for me to come here. You know the first time we came here, looking at the security protocols, we were a bit nervous because if you read in the papers about Afghanistan, there are always things like bombs going off, attacks here and there. So, you will be a bit nervous if you are coming from the western world. For me, after the last time, coming here was a no brainer. I am on a quest to find different places where people play cricket and are passionate about the sport.

Afghanistan is a fascinating story as only 10 years ago, there was nothing going on here as far as Cricket is concerned and suddenly, they are competing with all the power houses of world Cricket. It is always a fascinating one.

I like interacting with the people and see the passion of these supporters. There is no fault as far as the advancement of the game is concerned and the people behind it. It is hard to describe anything other than the ground and the people there as well as the hotel that we stayed in. Unfortunately we are still not able to go out and sample the other riches that Afghanistan has. But, I hope I will be coming here for a long time to come and hopefully things improve and I can get out to see what Afghanistan has to offer. I have seen lots of hotels and cricket fields, but I would like to see different parts of the country that, hopefully, would be possible in the years to come.



think that everyone must be given credit in their different spheres. The grounds men, the curators, the advancement in the ground, the covering of the spectators' areas as well. So, I was very impressed with what I have seen and considering it is a domestic competition in their own country, there were lots of people watching and spectator support was good. Therefore, I think it compares favorably with anywhere else in the world.

Q: Which players impressed you the most this season?

Campbell: I looked at various players at the awards ceremony, and Noor Ahmad, for me, stands out. Everybody is used to Salamkheil or Zahir Khan, however, Noor Ahmad was outstanding, Abdul Wasi, the leg spinner who only played a couple of games, was tremendous for the Speenghar Tigers as well. That's how strong the depth is here.

Ibrahim Zadran, I thought, was outstanding and Rahmanullah Gurbaz was a top draw. These are all youngsters. I read about the players afterwards, and when I saw that Rahmanullah Gurbaz is only 17 years of age, it felt crazy to see that these guys are that young and that competitive.

There are a lot of youngsters coming through replacing the older guys who have been around a long time. Mohammad Nabi, for example has retired from Test matches, and if I was an Afghanistan cricket supporter- which I am, or if I were a selector or administrator, I would have been very happy with what is coming through. Because, the last thing you want is nobody coming through your system to replace those older guys who have done it for you on the international stage.

But by what I see coming through in Afghanistan Cricket, I think the future is very bright. Those that are retiring now and getting on with age, have able replacements. Even the likes of Rashid Khan and Mujeeb ur Rahman have got to play for their places now because there is so much talent coming through that is going to be very competitive which is what you want as a cricketing nation. You want competitive cricket, good bench strength and people to take the place of someone who is injured and not let the standard down, which I see in Afghanistan Cricket.

Q: How can Shpageeza help Afghan players at the International level? Can the players use this experience to perform well at the big stage?

Campbell: I think so. I think you cannot say that for everybody as everyone is different. As far as their mental strength is concerned, they show a lot of ability when they are youngsters, but when you give them the opportunity to play at a higher level, some make it and some do not. That is the nature of life itself that not everybody makes it at the highest level.

But what I have seen in the pressure situations in this Shpageeza, I think there is nobody there that stood out saying he is under pressure or can't play. Everyone at some stage was under pressure in the tournament. The death bowling, particularly, was very good as we rarely saw the batsmen dominating in the last few overs, particularly from the seamers at the back end of the innings with Yorkers, slower balls, slower bouncers. Naveen ul Haq was outstanding as far as bowling in the powerplay and at the death or back end of the innings is concerned.

When it comes to cricket here, they (the players) just treat it as something to enjoy and something to embrace. I saw people that wanted an opportunity,



Interview with Mr. Alistair Campbell



Q: How was your experience during this Shpageeza? You watched the games very closely and know the game well. Please share your experience with us.

Campbell: It has improved drastically from two years ago. I think two years ago, there were sort of three of four player, maybe five players, that you would have looked at and said these guys are pretty good and of international standard. This time there are so many more.

The standard of cricket has been a lot better and there are many youngsters coming through, I have been impressed particularly in the spin department with left-arm Chinaman bowlers, leg spinners. Also, there were good hard-hitting young batsmen as well. So, I have been overwhelmed and flabbergasted really by what I have seen as far as development of talent and the standard of the general players are concerned in the last two years.

I am very optimistic about Afghanistan's future in international cricket because I think the domestic program is good and there are a lot of youngsters coming through. The key to success is making sure youngsters are coming through and are of the required standard and what I have seen in this Shpageeza is that Afghanistan cricket is definitely on the right track.

Q: You have served as a commentator in various international matches and tournaments, how was SCL a different experience from the rest?

Campbell: If you are looking it from playing perspective, in these conditions, I think even a lot of overseas players would have come here and struggled. I thought that the bowling was of exceptional standard, particularly in the spin department. As far as the variations are concerned, I think the seamers have upped their game as well. So, as I said earlier, I think the standard compares to anyone around the world, particularly in these conditions.

And, as far as the broadcast is concerned, it was much better than what it was two years ago. The running of the event, the administration, standard of umpiring and all those things need to go hand in hand with the advancement of your actual playing standards. So, I

عزیزی بانک
Azizi Bank

رفاه قرضه
RIFA LOAN

بهترین گزینه برای رشد و پیشرفت کاروبار

زنان

1515
www.azizibank.af